# اوبه او انرژي

د اوبو او انرژي وزارت خپروونکی ارگان

دولسم کال، دوه وېشتمه گڼه، د ۱۴۰۲هـ ش کال لمړی ربع ( حمل، ثور، جوزا) چې د ۱۴۴۴هـ ق کال سره سمون لري



د سلما بند

۲۲ گڼه

**د بخش آباد بند پهٔ هکله د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د وینا مهم ټکي:**

بخش آباد بند د فراه ولایت لپاره یوه مهمه او حیاتي پروژه ده او مونږ پهٔ ټول توان د دغې پروژې پهٔ بشپړولو کې د فراه ولس تر څنګ ولاړ یو.

کوم مسؤلیت چې مونږ ته سپارل کېږي، مونږ یې پهٔ پوره صداقت او امانتدارۍ سره تر سره کوو.
د فراه ولس د اسلامي نظام د حاکمیت لپاره سترې قرباني ورکړې دي.
د افغانستان اقتصادي زیربناوو بیارغونه ډېر کار ته اړتیا لري او پهٔ جدي توګه مې هڅه پیل کړې ترڅو پهٔ اقتصادي ډګر کې د ښو تحولاتو شاهدان واوسو.

**د بخش آباد بند پهٔ هکله د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور د وینا مهم ټکي:**

د دې بند پهٔ جوړېدو سره به کرنیز فعالیتونه پهٔ فراه ولایت کې لا غښتلي او پیاوړي او اقتصادي وده به رامنځته شي.

زموږ کار یواځې پهٔ خبرو نهٔ؛ بلکې پهٔ عمل کې ده او د نن ورځې د دې سترې پروژې پرانیستنه یې یوه بیلګه ده.
د فراه ولایت د مجاهد ولس ستونزې مو درک کړې؛ او د اوبو او انرژۍ پروژې ته مو پهٔ دې ولایت کې اولیت ورکړ.
د اسلامي امارت پهٔ تخنیکي ملاتړ او د ولس پهٔ همکارۍ به نن پهٔ فراه ولایت کې یوه مهمه پروژه پرانېزو.
پهٔ شمال کې د قوش تیپې کانال پهٔ کرنیز ډګر کې یو ستر انقلاب دی، چې د اسلامي امارت له برکته اوس پهٔ هېواد کې د تطبیق پهٔ درشل کې ده.
د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه تر قیادت لاندې هرې برخې ته خانګړې پاملرنه شوې او د شته امکاناتو څخه پهٔ استفادې هڅه روانه ده ترڅو هېوادوالو ته د هوسا ژوند زمینه برابره شي.
د بخش آباد بند پرانیستنه؛ د هېواد د اقتصادي غوړېدا او ځان بسیاینې پر لور مهم ګام دی.



# د دې ګڼې په پاڼو کې


سـرمقاله --- 2
د فراه ولایت د بخش آباد بند پروژې د چارو د چټکتیا په موخه د همغږۍ غونډه ترسره شوه --- 3
تفاهمنامه همکاری در مورد ایجاد فابریکه تولید 72 میگاوات برق از منابع ذغال سنگ --- 3
محترم ملا عبدالغنی برادر آخوند، معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ اول حمل سال 1402 --- 4
تفاهمنامه همکاری میان وزارت آب و انرژی و موسسه همکاری دنمارک (DRC) به امضا رسید --- 5
جلسه اداری معینیت انرژی به منظور بررسی شماری از موضوعات مهم این معینیت برگزار شد --- 6
سرپرست وزارت آب و انرژی با والیان ولایت های هرات، غور و بادغیس دیدار کرد --- 8
د اوبو او انرژۍ وزارت، د افغانستان بریښنا شرکت او د ترکمنستان سفارت ترمنځ ګډه ناسته --- 9
سرپرست وزارت آب و انرژی با مسئولین شرکت گلبهار انویست در مورد سرمایه گذاری --- 10
د سترو قراردادونو د څېړلو غونډه د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو په معینیت کې ترسره شوه --- 11
تفاهمنامه همکاری مشترک برای سرمایه گذاری در پروژه تولید 200 میگاوات برق بادی --- 12
جلسه هماهنگی به منظور آغاز کار عملی پروژه تولید 72 میگاوات برق --- 13
د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته د دوکتور فاروق اعظم پرانیستی لیک --- 16
د همکارۍ کولو وجیبه؛ د منصفانه ګټې اخیستنې او ګډو شریکولو چوکاټ په توګه --- 20
د انرژۍ ملي پالیسي --- 25
عوامل محرک و مهار سیلاب در افغانستان --- 26
سمارټ ګرډ یا هوښیارې شبکې څه شی دي؟ --- 28
نقش رسانه-ی چاپی(مجله) درتکوین ارزشهای معنوی جامعه --- 32
تجهیزات مورد استفاده در برق سیتسم های برقی --- 37
د ځمکې لاندې اوبو د خارنې سیستم --- 42
اشاره‌ی مختصر به اقدامات بنیادی وزارت آب و انرژی در دوسال اخیر --- 45
د منځنی اسیا جمهوریتونه --- 47
A Joint Cooperation Agreement Was Signed With 77 Turkish Construction Company To --- 50
Bakhsh Abad Dam Diversion Tunnels Project Was Opened In Farah Province --- 52



د امتیاز خاوند: د اوبو او انرژۍ وزارت

مسؤول مدیر: خواجه فقیر محمد " صدیقي "

کتنپلاوی:
قاري محمد عبدالعزیز "عزیز"
الحاج غلام جیلاني "حق پرست"
انجنیر میرویس "میرزاد"
برکت الله " آریوبي"
انجنیر همت الله "امین زی"
اسدالله "زیرک"
سید عطاالله " صدیقي "

سموونکی: بازمحمد "درمل"

راپور ورکوونکي : نعمت الله " اخلاقي" او اسدالله "ایوبي"

عکس اخیستونکی: محمد حکیم "فیض"

توزیع کوونکی: سیدعادل "سادات"



درک: د دارالامان عمومي سرک

بریښنالیک: chiefofstaff@mew.gov.af

وېبپاڼه: Info@ mew.gov.af

د اړیکو شمېرې: ۰۷۷۷۹۱۷۸۹۸
۰۷۷۳۲۱۸۴۱۸


درنو لوستوونکو!

د اوبه او انرژۍ وزارت مجلې او میاشتنۍ جریدې د سافټ موندلو لپاره کولای شئ د دې ادارې ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.


یادونه: د اوبه او انرژۍ فصلنامه کې چې کومې مقالې خپریږي،په لیکوالانو پورې اړه لري؛هر لیکوال ته بویه چې د خپلې لیکنې دفاع پخپله وکړي، د مجلې د نوم په یادولو سره هر چاته د مأخذ په توګه د استفادې اجازه ده.

## سـرمقاله

**که د افغانستان د اسلامي امارت تېر نژدې دوه کلن فعالیت ته یوه ځغلنده کتنه وکړو؛ وینو چې امارت وکولای شوای چې:**

- له نژدې څلورنیمو لسیزو اوږدې مودې وروسته د لمړي ځل لپاره ټول هېواد د یوې واحدې ادارې تر حاکمیت لاندې راولي، ملي وحدت، ملي حاکمیت، ارضي تمامیت او ملي استقلال تأمین کړي.
- د دومره لوی بدلون په درشل کې د هر ډول مالي او ځاني تلفاتو مخه ونیسي او د سترګو په رپ کې ټول هېواد تر خپلې واکمنۍ لاندې راولي.
- د هېواد ټولې رسمي ادارې فعالې کړي، په سل ګونو زره پخواني مأمورین په ادارو کې په کار بوخت وساتي او په زرګونو نوي خواتان په رسمي دندو وګوماري.
- سرتاسري امنیت تأمین او د خواک ببلابېلې جزیرې له منځه یوسي.
- د هېواد د امنیتي او دفاعي خواکونو تشکیل منظم او په سل ګونو زره د عقیدې په وسله او مسلکي پوهه سمبال هېوادوال د ملي اردو، ملي پولیسو او استخباراتو په لیکو کې تنظیم او د هېواد چوپړ ته اماده کړي.
- اداري سرغړونو، خپلسریو، سرزوریو او بې بندو باریو ته د پای ټکی کېږدي. اداري نظم او دسپلین رامنځته کړي او ټول مامورین په بشپړه توګه د حکومت اوامرو، فرامینو او لوایحو ته اطاعت ولري.
- د ټولو ملکي او عسکري ادارو د کارونو فوق العاده څارنه او څېړنه کېږي.
- په سیاسي ډګر کې هم د پام وړ پرمختګونه راغلي دي چې عبارت دي له:

- شاید د هېواد په تاریخ کې لمړی ځل وي چې په ټول هېواد کې یو سیاسي بندي هم شتون نه لري.
- په ګڼو هېوادونو کې د افغانستان د سیاسي نمایندګیو ترلاسه کول، هلته د پخوانیو ډیپلوماتانو ترڅنګ د نوو ډیپلوماتانو ګومارل.
- د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د نړیوالو اصولو، متقابل احترام او متقابلو ګټو په رڼا کې سیاسي، تجارتي او... اړیکو ته وده ورکول.
- له هېواد څخه وتلي ګڼ شمېر فني او سیاسي اشخاص بېرته هېواد ته راستنول.
- د ګاونډیو هېوادونو له بند خونو څخه د سل ګونو افغان بندیانو راخوشي کول.

په اقتصادي برخه کې هم خورا مهمې او په زړه پورې لاس ته راوړنې لري لکه:

- ✓ د دومره لوی اوښتون په بهیر کې د ملي پولي واحد(افغانۍ) ارزښت ته ثبات ورکول او لوړول.
- ✓ له نړۍ سره د ملي ګټو پر اصل ولاړې اقتصاد محوره اړیکې پراخول
- ✓ د هېواد په تاریخ کې د لمړي ځل لپاره د صادراتو کچه نژدې دوه میلیارده ډالرو ته لوړول.
- ✓ له کورنیو عوایدو څخه د هېواد بودیجه برابرول.
- ✓ د عوایدو په شفاف ډول را ټولول او مصرفول.
- ✓ افغانستان د سیمې او نړۍ د هېوادونو لپاره د فصل په ځای د وصل په نقطه بدلول.
- ✓ د پولي تورم مخه نیول.
- ✓ په بازارونو کې د توکو بیې کنټرولول.
- ✓ د بلورنځیو کلکه څارنه او پلټنه کول.
- ✓ د فساد او اختلاس کچه صفر ته را ټیټول.
- ✓ د پخوانیو قراردادونو له سره څېړل او نیمګړتیاوې په ګوته کول.
- ✓ سل ګونو زره مامورینو، معیوبینو، کونډو او یتیمانو ته منظم میاشتنی معاشونه ورکول.
- ✓ د نشه ای توکو د کښت، قاچاق او تجارت ګراف صفر ته را ښکته کول.
- ✓ د زرګونو معتادینو را ټولول، درملنه کول او په جامعه کې د اعتیاد له ذلت څخه د درنښت او سالم انسانیت مقام ته د هغوی بېرته رسول. چې په نتیجه کې یې هغه کسان چې پرون د ټولنې د اوږو بار او د کورنۍ د پېغور سبب وو، نن دټولنې فعال غړي او د کورنیو ویاړونه شول.
- ✓ د ملي واکمنۍ، ملي خپلواکۍ او خمکنۍ بشپړتیا تأمینول او خوندي کول.
- ✓ د هېواد له پولو څخه په فوق العاده توګه څارنه، ساتنه او دفاع کول.
- ✓ د هېواد د اوبو مهارولو او مدیریت ته لمړیتوب ورکول.
- ✓ د نیمه کاره بندونو د کارونو بیا پیلول.
- ✓ د نویو بندونو، ډیمونو، چکډیمونو، سربندونو او کانالونو د سروې او ډیزاین چارې پیلول.
- ✓ د اوبو د مدیریت او برېښنا د تولید په شمول د هېواد د پرمختګ لپاره په هره برخه کې له کورنیو سرچینو، امکاناتو او کدرونو څخه اعظمي استفاده کول.
- ✓ پر اوبو سربېره د لمریزې، بادي او حرارتي برېښنا د تولید لپاره د سروې، امکاناتو، سرچینو او پانګه اچوونکو لټول.
- ✓ په پورته سکتورونو کې د پانګه اچوونکو د جلب، جذب او تشویق په موخه له بلها کورنیو او بهرنیو شرکتونو او پانګه والو سره ناستې کول او له یو شمېر شرکتونو سره هوکړه لیکونه لاسلیکول.
- ✓ هغوی ته په هېواد کې د پانګونې لپاره فرصتونه برابرول او د پانګې د خوندیتوب او همکارۍ داډ ورکول.
- ✓ د هېواد د طبیعي زیرمو په سپړلو او د بیارغونې په ټولو برخو کې کورنیو پانګه والو او شرکتونو ته لمړیتوب ورکول.

پورته یاد شوي موارد هغه څه دي چې د صلیبي اشغالګرو له ماتې او تېښتې وروسته او د افغانستان د اسلامي امارت د دوهم ځل واکمنۍ له پیل څخه تر دې دمه د مشت نمونه خروار په توګه ورڅخه یادونه وشوه.

خو د افغانستان د اسلامي امارت رهبري باید داسې فکر ونکړي چې ګواکې موثر خپل مسئولیت ترسره کړ. نه؛ د دوی په وړاندې تر منزله لا ډېر اوږد مزل پاتې دی او د خپل دین، هېواد او ولس لپاره باید لا ډېر څه وکړي او هغه کسان چې په شعوري یا غیر شعوري توګه او یا د ړندې عقدې له مخې د امارت ټول خدمتونه له پامه غورځوي او مخالفت ته دوام ورکوي، نو دوی دې فقط د هېواد پروني اداري، سیاسي، نظامي او اقتصادي وضعیت له نننې هغه سره پرتله کړي؛ ډېرې پوښتنې به یې حل شي.

او که ویښ وجدان ولري نو ډریز به یې ۱۸۰ درجې تغیر وموي.

# د فراه ولایت د بخش آباد بند پروژې د چارو د چټکتیا په موخه د همغږۍ غونډه ترسره شوه



د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د خپل کار په دفتر کې د فراه ولایت د بخش آباد بند پروژې د چارو د چټکتیا په هکله د یاد بند د قراردادي شرکت له مسئولینو سره بحث او د اندونو تبادله وکړه.
په یاده غونډه کې د قراردادي شرکت مسئولینو د پروژې د چارو د جریان، د پروژې د چارو د پرمختګ او د شته ستونزو په هکله خپل ګذارش وړاندې کړ او د اوبو او انرژۍ وزارت له رهبرۍ څخه یې وغوښتل چې د شته ستونزو د حل په برخه کې همکاري وکړي.
د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر د یاد وزارت د تخنیکي مسئولینو او د قراردادي شرکت د استازو د ګذارشونو تر څېړلو وروسته د پروژې د چارو پر چټکتیا باندې ټینګار وکړ او د شته ستونزو د حل په برخه کې یې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

---

## تفاهمنامه همکاری در مورد ایجاد فابریکه تولید 72 میگاوات برق از منابع ذغال سنگ میان وزارت آب و انرژی وشرکت عوفی بهرام به امضا رسید.

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش تفاهمنامه همکاری مشترک در راستای سرمایه گذاری برای ایجاد فابریکه تولید برق به ظرفیت 72 میگاوات از منابع ذغال سنگ را با مسئول شرکت تجارتی استخراج و پروسس معادن عوفی بهرام به امضا رساند.
این تفاهمنامه به هدف هماهنگی و همکاری های مشترک هردوجانب جهت انسجام امور سرمایه گذاری و تسریع آغاز کار عملی پروژه یاد شده میان هر دو طرف به امضا رسیده است.

---

### د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر د ارغنداب سیندیزې فرعي حوزې ریاست څخه لیدنه وکړه

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور د ارغنداب سیندیزې فرعي حوزې ریاست څخه د لیدنې پرمهال د یاد ریاست له رئیس محترم ملا سید محمد شرافت او کارمندانو سره وکتل.
په دې لیدنه کې، ښاغلي شرافت د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر ته د یاد ریاست د کاري پلان او ترسره شوو اجراآتو په هکله بشپړ معلومات وړاندې کړل.

په ورته مهال، د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر د ارغنداب سیندیزې فرعي حوزې رئیس ته د کاري پلان د غوره پلې کولو او د چارو د لا ښه پرمخ وړلو په پار اړین هدایات ورکړل.

### سرپرست وزارت آب و انرژی از بند دهله ولایت کندهار بازدید کرد

محترم ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی درحالی‌که محترم ملا سید محمد شرافت، رئیس حوزه فرعی دریایی کندهار، وی را همراهی می‌کرد از بند دهله ولایت کندهار بازدید نمود.

رئیس حوزه فرعی دریایی کندهار به سرپرست وزارت آب و انرژی پیرامون کارهای انجام شده در این بند را از آغاز حاکمیت دوباره امارت اسلامی افغانستان تاکنون، معلومات همه جانبه ارائه کرد.
محترم وزیر صاحب از کارهای انجام شده در این بند اظهار خوشی نمود و به رئیس حوزه فرعی دریایی کندهار در مورد حفظ و مراقبت آن هدایات لازم داد.

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخوند، معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ اول حمل سال 1402 خورشیدی به ولایت نیمروز سفر نمود



در این سفر معاون اقتصادی ریاست الوزراء را محترم مولوی امیرخان متقی، سرپرست وزارت امور خارجه، محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده، معین آب وزارت آب و انرژی، محترم عبدالرحمن عطاش، رئیس شرکت انکشاف ملی و شماری دیگر از مسئولین بلند رتبه همراهی می‌کردند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء و هیئت همراه اش در این سفر ضمن ملاقات با والی نیمروز از بند کمال خان بازدید نمودند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء و هیئت همراه اش در دیدار با والی نیمروز در کنار حل مشکل مردم این ولایت در خصوص آب و آبیاری به موقع زمین‌های زراعتی آنها، از جریان نصب توربین‌های بند کمال خان بازدید نمودند و در مورد بلند بردن ظرفیت ذخیره آب، پاک‌کاری کانال‌های ذیربط و مدیریت بهتر امور به مسئولین مربوطه هدایات لازم داد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخوند بند کمال خان را پروژه ملی و حیاتی خواند و از تلاش‌های مسئولین ذیربط به خاطر ابتکارات به وجود آمده قدردانی نمود. در اخیر محترم ملا صاحب نظرات انجنیران تخنیکی را در مورد پرچاوی و کنترل آب بند را استماع نموده و به مسئولین وزارت آب و انرژی هدایت داد که در بخش حل مشکلات با آنها همکاری نمایند.

## د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ معین د میهن پرستانو مسلمانانو د خیریه مؤسسې له مسؤلینو او د تاتارستان هېواد له تخنیکي انجنیرانو سره وکتل

د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ معین محترم ملا عبدالقاهر ادریس د خپل کار په دفتر کې د میهن پرستانو مسلمانانو د خیریه مؤسسې له مسؤلینو او د تاتارستان هېواد له تخنیکي انجنیرانو سره وکتل.

په یاده لیدنه کې د انرژۍ په برخه کې د پانګونې او د ډېرو سکرو د توربینونو د نصبولو او د برېښنا د تولید په برخه کې د همکاریو د پراخولو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ معین د یادې موسسې له استازو او مسؤلینو سره د همکارۍ ژمنه وکړه او د ډېرو سکرو له سرچینو څخه یې د برېښنا د تولید په برخه کې د پانګونې زمینې د چمتو کولو ډاډ ورکړ.

### په غزني ولایت کې د کابو ۴۰۰ زره آمریکایي ډالرو په ارزښت د یوې پروژې چارې پیل شوې

د یادې پروژې چارې د کابو ۴۰۰ زره آمریکایي ډالرو په ارزښت د غزني والي محترم مولوي محمد امین جان عمري، د غزني سیندیزې فرعي حوزې رئیس محترم مولوي اسدالله منصوري او د یاد ولایت د یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو په ګډون پرانیستل شوې.

په نوموړي پروژه کې د مرکز اړوند د بازار کانال د سربند ، د قره باغي کانال او سربند، اندړو ولسوالي کې د نائي بازار په سیمه کې د سیلابونو د زیانونو د مخنیوي لپاره د استنادي دیوال او د واغظ ولسوالي اړوند د ساربان او باغ کډي کلیو کې د استنادي دیوالونو جوړول شامل دي.

د یادې پروژې په پرانیست غونډه کې د غزني والي د پروژې د چارو پر کیفیت او چټکتیا باندې ټینګار وکړ.

د دې پروژې چارې چې د UN-FAO سازمان په مالي ملاتړ د غزني سیندیزې فرعي حوزې د ریاست تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي، ګټو کسانو ته پکې د کار زمینه چمتو شوې ده.

د یادې پروژې په بشپړېدو سره به د زرګونو جریبه کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره زمینه چمتو او د سیلابونو د شوني زیانونو څخه مخنیوی وشي.

### د ننګرهار په سیندیزه فرعي حوزه کې د ۱۴۰۲ لمریز کال د پلان جوړولو په موخه ناسته ترسره شوه

یاده ناسته د ننګرهار سیندیزې فرعي حوزې رئیس ښاغلي سید فضل احد هاشمي او ټولو کامندانو په ګډون ترسره شوه.

په یاده ناسته کې د ۱۴۰۱ کال د لاسته راوړنو په هکله خبرې وشوې او ښاغلي هاشمي ټولو کارمندانو ته لارښوونه وکړه چې د ۱۴۰۲ لمریز کال په پلان کې دې هغو چارو ته لومړیتوب ورکړي چې ورته اړینه اړتیا لیدل کېږي.

همدغه راز، د ښاغلي هاشمي او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د مسؤلینو تر څارنې لاندې د یاد ریاست دکارمندانو ارزونه هم ترسره شوه.

## د اوبو او انرژي وزارت د کارمندانو لپاره د وړتيا لوړونې سمينار د افق مطالعاتي او څېړنيزې موسسې په همکاري ترسره شو



ياد سمينار د اوبو او انرژي وزارت د دفتر عمومي رئيس محترم قاري محمد عبدالعزيز عزيز، د وزارت د مقام سلاکار محترم ډاکټر فاروق اعظم، د افق موسسې د څېړنيزو مطالعاتو د اجرائيي مدير محترم عبدالوارث خانزوی او د اوبو او انرژي وزارت د ټولو رئيسانو په ګډون د وزارت د غونډو په تالار کې ترسره شو.

دغه سمينار د قرآن کريم د آياتونو په تلاوت سره د مبلغ محترم عبدالواحد له خوا پيل شو او د سمينار په دوام کې د اوبو او انرژي وزارت د دفتر عمومي رئيس محترم قاري محمد عبدالعزيز عزيز د داسې سمينارونو د ارزښتونو په هکله خبرې وکړې او د وزارت له کارمندانو څخه يې و غوښتل چې ملت او خلکو ته د خدمت رسولو په لار کې دې خپل مسلکي او اداري مهارتونه لوړ کړي.

همدارنګه د اوبو او انرژي وزارت د مقام سلاکار محترم ډاکټر فاروق اعظم په خپلو خبرو کې د ژوند په چارو کې د مديريت اهميت ته اشاره وکړه او د اجراآتو د ښه والي په برخه کې يې د وړتيا لوړونې ښوونيزې برنامې اړينې وګڼلې. په پای کې د افق مطالعاتي او څېړنيزې موسسې اجرائيي مدير محترم عبدالوارث خانزوی د نوموړې موسسې د کړنو په هکله معلومات وړاندې کړل او زياته يې کړه چې افغانستان مخلصو، ژمنو او متخصصو کسانو ته اړتيا لري، ترڅو آبادي او ځان بسياينې ته ورسېږي.

د يادونې وړ ده چې په دې سمينار کې د اوبو او انرژي وزارت ټولو کارمندانو ته د وخت د مديريت، د بشري سرچينو مديريت، د مادي سرچينو مديريت او د رهبري او مديريت پورې اړوند ټولو چارو په هکله اړين معلومات وړاندې شول.

---

## تفاهمنامه همکاری میان وزارت آب و انرژی و موسسه همکاری دنمارک (DRC) به امضا رسید



محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش تفاهمنامه همکاری مشترک برای تطبیق پروژه های انکشافی آب را با خانم جوایس لگلیش مسئول موسسه همکاری دنمارک در افغانستان (DRC) به امضا رساند.

محترم معین آب در هنگام امضای این تفاهمنامه اظهار داشت که مدیریت آب در افغانستان به همکاری مشترک موسسات ملی و بین المللی نیازمند بوده و مقام رهبری وزارت آب و انرژی از انجام این همکاری های مشترک استقبال می نماید.

قابل ذکر است که مطابق این تفاهمنامه موسسه یاد شده در راستای تطبیق پروژه های انکشافی مدیریت آب و تامین آب آشامیدنی برای مردم افغانستان با وزارت آب و انرژی همکاری می نماید.

## جلسه اداری معینیت انرژی به منظور بررسی شماری از موضوعات مهم این معینیت برگزار شد



این جلسه تحت ریاست محترم قاری محمد عبدالعزیز"عزیز" رئیس عمومی دفتر وزارت و وارسی کننده معینیت انرژی، با حضور روئسا وسایر مسئولین تخنیکی معینیت متذکره برگزار گردید.
در جلسه متذکره روی چندین موضوع مهم به ویژه در مورد بررسی مسوده پلان پنج ساله انکشاف سکتور انرژی که برای تنظیم، توسعه، رشد، توزیع، انتقال متوازن و تولید انرژی در کشور تهیه و ترتیب شده که بعد از تدقیق و نهایی سازی پلان پنج ساله، کار روی پلان عملیاتی و یا اکشن پلان آغاز خواهد شد.
در ادامه جلسه روی ارزیابی فعالیت های ریاست های معینیت انرژی در یک سال گذشته نیز بحث های همه جانبه به عمل آمده، قابل یادآوری است که تمام فعالیت های معینیت انرژی به شکل هفته وار، ماه وار، و ربعوار به اساس فیصدی ارزیابی خواهد شد.
محترم قاری محمد عبدالعزیز"عزیز" رئیس عمومی دفتر وزارت و وارسی کننده معینیت انرژی، پس از شنیدن نظریات اعضای جلسه بر تلاش های موثر به منظور تسریع نهایی سازی پلان پنج ساله انکشاف سکتور انرژی تاکید نموده وظایف مشخصی را به مسئولین زیربط سپردند.

## در سال 1402 خورشیدی به تعداد 111 پروژه عام المنفعه در ولایت کاپیسا تطبیق خواهد شد



محترم انجنیر کاوه خروش، رئیس حوزه فرعی دریایی کاپیسا که در جلسه سکتور زیربنا و منابع طبیعی اشتراک کرده بود، گفت که در سال1402 خورشیدی در ولسوالی‌های مختلف ولایت کاپیسا به تعداد 111 پروژه عام‌المنفعه که از سوی مسئولین این ریاست سروی و دیزاین شده، تطبیق خواهد شد.
آقای خروش گفت که در سال جدید خورشیدی به تعدا 40 پروژه در ولسوالی تگاب، 24 پروژه در ولسوالی نجراب، 22 پروژه در ولسوالی آله سای، 18 پروژه در ولسوالی محمد راقی، 3 پروژه در ولسوالی حصه دوم کوهستان، 2 پروژه در ولسوالی حصه اول کوهستان و 2 پروژه در ولسوالی کوهبند تطبیق خواهد شد.

## د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د قرغې بند د ساتنې او مراقبت بشپړو شویو پروژو څخه لیدنه وکړه

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور او ورسره مل تخنیکي ټیم د قرغې بند د ساتنې او مراقبت بشپړو شویو پروژو دبیلابیلو برخو څخه لیدنه وکړه.

محترم منصور صاحب د یادو پروژو پلي کول د قرغې بند د ساتنې او مراقبت او څمکې لاندې اوبو دتغذیې په لاره کې ګټور ګام و باله.

همدارنګه د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د دې پروژو د پلي کوونکو مسؤلینو کړنې و ستایلې او دوی ته یې په چارو کې د بریا غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه چې د چارو په پلي کولو کې رښتینولي او اخلاص ته د خپلو کارونو په لومړیتوبونو کې ځای ورکړي.

## د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د بیات پاور شرکت له مسؤلینو سره وکتل

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین محترم ملا عبدالقاهر ادریس د خپل کار په دفتر کې د بیات پاور شرکت له مسؤلینو سره وکتل.

په دې لیدنه کې په جوزجان ولایت کې د ګازو له سرچینو څخه د ۴۰ میګاواټه بریښنا د تولید او په هېواد کې د انرژي د تولید په برخه کې د پانګونې په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د خلکو په ژوند کې د بریښنا انرژي د مهم ګڼلو د یادونې ترڅنګ، د پروژې د چارو پر چټکتیا باندې ټینګار وکړ.

## معین انرژی وزارت آب و انرژی با کارمندان و روئسا دیدار نمود




محترم ملا عبدالقاهر ادریس، معین انرژی وزارت آب و انرژی از ریاست ها و آمریت های این معینیت دیدار نمود.

در این دیدار، روئسا و آمرین معینیت انرژی وزارت آب و انرژی، پیرامون برنامه های کاری خویش معلومات کامل و همه جانبه را با معین انرژی وزارت آب و انرژی شریک نمودند.

محترم معین انرژی بعد از شنیدن نظریات کارمندان این معینیت به خدمت گزاری صادقانه و تلاش برای خود کفاسازی کشور در انرژی تاکید ورزیده و اهمیت انرژی را در ابعاد مختلف زندگی بشر خیلی مهم و با ارزش خواند.

## پروژه حفظ و مراقبت بند قرغه تکمیل و افتتاح شد

این پروژه با حضور انجنیر حبیب الرحمن حقپال رئیس عمومی حوزه دریایی کابل، انجنیر عبدالغفور عمری رئیس عمومی خدمات انجنیری تاسیسات آب، داکتر محمد عابد انورزی رئیس عمومی تنظیم خدمات انرژی،مولوی ولی محمد تائب رئیس حوزه فرعی دریائی کابل وسطی، مولوی محمد یعقوب حقانی معاون ولسوال پغمان، الحاج غلام جیلانی حق پرست رئیس اطلاعات و نشرات و سائر روئسا و مسئولین وزارت آب و انرژی افتتاح گردید.

در آغاز این برنامه محترم مولوی ولی محمد تائب رئیس حوزه فرعی دریائی کابل وسطی به مهمانان خوش آمدید عرض نموده افتتاح این پروژه را یک گام ارزشمند در راستای مدیریت آب و نگهداری از تاسیسات آبی خواند.

در ادامه انجنیر حبیب الرحمن حقپال رئیس عمومی حوزه دریائی کابل در جریان افتتاح این پروژه در مورد وضعیت آبهای سطحی و زیر زمینی شهر کابل صحبت نموده ضمن اشاره به اهداف و اهمیت این پروژه تطبیق آن را یک دست آورد خوب در راستای حفظ و مراقبت از بند قرغه یاد کرد.

همچنان مولوی محمد یعقوب حقانی معاون ولسوال پغمان در مورد دست آورد های امارت اسلامی به صورت مختصر اشاره نموده یادآور شد که مردم افغانستان در آینده شاهد دست آورد های بیشتر امارت اسلامی در هر عرصه خواهد بود.

در اخیر الحاج غلام جیلانی حق پرست رئیس اطلاعات و نشرات وزارت آب و انرژی مختصراً به اهمیت وحدت و همکاری میان مردم و حکومت اشاره نموده با ذکر دعائیه این برنامه را اختتام بخشید.

## د شاهروان عمومي کانال د حریم د غصب او د اوبو د ککړتیا د مخنیوي په هکله د تالقان په سینديزه فرعي حوزه کې غونډه ترسره شوه

یاده غونډه د تالقان سیندیزې فرعي حوزې رئیس، مولانا صبغت الله قانع تر مشري لاندې، د اقتصاد او امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاستونو رئیسانو، د تخار ولایت د علماوو شورا، د چاپیریال ساتنې او ښاروالي استازو، د اوبو ګټه اخیستونکو ټولنې رئیس او د شاهروان عمومي کانال میراب باشانو په ګډون کې ترسره شوه.

په یاده غونډه کې د شاهروان عمومي کانال د حریم د غصب او اوبو د ککړتیا د مخنیوي په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه

## مقدار جریان آب چهار دریا در ولایت پروان اندازه گیری شد

مسئولین حوزه فرعی دریایی غوربند- چاریکار مقدار جریان آب دریاهای سالنگ، پنجشیر، غوربند ، شتل و همچنان مقدار آب در استیشن‌های ذیربط را معلوم نمودند.

مسئولین مذکور معلومات ثبت شده در استیشن‌های تنگی گلبهار، باغ عمومی گلبهار، باغ لالا و پل آشابه را نیز جمع آوری کردند.

## په کنړ ولایت کې د لودم کانال چارې ۸۰ سلنه پرمخ تللي دي

د کنړ سیندیزې فرعي حوزې تخنیکي ټیم د یاد ولایت په وټه پور ولسوالي کې د لودم کانال د چارو له بهیر څخه څارنه وکړه او مسؤلینو ته یې د چارو د غوره پرمخ وړلو په پار لازمي لارښوونې وکړې.

د یاد کانال چارې چې د خورو نړیوال سازمان په مالي ملاتړ د کنړ سیندیزې فرعي حوزې تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي، ۸۰ سلنه پرمخ تللي دي او پکې ګڼو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

د یادې پروژې د چارو په بشپړېدو سره به د نوموړي سیمې د خلکو د اوبو د کموالي ستونزه هواره شي.

## سرپرست وزارت آب و انرژی با والیان ولایت های هرات، غور و بادغیس دیدار کرد



محترم ملا عبداللطیف "منصور" سرپرست وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش با محترم شیخ الحدیث مولانا نور احمد "اسلام جار"، والی ولایت هرات، مولوی احمد شاه دین دوست والی ولایت "غور" و مولوی عبدالصمد "جاوید" والی ولایت بادغیس دیدار نمود.

در این دیدار والیان ولایت های هرات، غور و بادغیس مشکلات مردم آن ولایت ها را با مقام رهبری وزارت آب و انرژی شریک نموده خواستار تطبیق پروژه های آب و انرژی در ولایت های یاد شده گردیدند.

سرپرست وزارت آب و انرژی در این دیدار به والیان ولایت های متذکره اطمینان داد که رهبری وزارت آب و انرژی تلاش می نماید تا با در نظرداشت امکانات موجود به مشکلات آب و برق این ولایت ها رسیدگی صورت گیرد.

وی همچنان در این دیدار از آغاز کار پروژه تولید برق از منابع باد به ظرفیت 200 میگاوات در ولایت هرات خبرداده همچنان یاد آور شد که در راستای تطبیق پروژه لین انتقال برق تاپ با هیئت کشور ترکمنستان نیز جلسه برگزار خواهد کرد تا کار های این پروژه هم در آینده آغاز گردد.

## د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د سپین زر د انرژي تولیدي شرکت له غړو سره وکتل

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین محترم ملا عبدالقاهر ادریس د سپین زر د انرژي تولیدي شرکت له غړو سره د اوبو او انرژي وزارت د انرژي په معینیت کې وکتل.

په یاده لیدنه کې په هېواد کې د انرژي د تولید او د انرژي د تولید په برخه کې د پانګونې د جبلولو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د سپین زر د انرژي تولیدي شرکت په دریو پراوونو کې د ګازو له سرچینو څخه په ګټې اخیستنې سره،د ۵۰۰ میګاواټه برېښنا په تولید



باندې پانګونه کوي.

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین له یاد شرکت سره د همکارۍ ژمنه وکړه او په دې برخه کې یې د نورو پانګوالو د جلبولو غوښتنه وکړه.

## کار نصب کیبل فایبر نوری ریاست حوزه فرعی دریایی کاپیسا آغاز گردید

کار نصب کیبل فایبر نوری ریاست حوزه فرعی دریایی کاپیسا آغاز گردید که با تکمیل شدن آن مشکلات انترنیتی ریاست حوزه مذکور حل گردیده و سهولت های مزید در قسمت تامین ارتباطات الکترونیکی ایجاد خواهد شد.

## په خوست ولایت کې د 700 متره په اوږدوالي د یوه کانال چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د خوست ولایت مرکز اړوند په مانې سیمه کې د 700 متره په اوږدوالي د یوه کانال چارې بشپړې او د شمل خرم سیندیزې فرعي حوزې رئیس، شیخ الحدیث فضل الرحمان جلالي او ورسره مل تخنیکي ټیم، د زراعت ریاست رئیس، د اریکو دفتر ولایتي مسئول، دیني علماوو او قومي مشرانو په شتون کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د یادې پروژې چارې د شمل خرم سیندیزې فرعي حوزې په تخنیکي همکارۍ، د بریتانیا د بهرنیو مرستو پرمختیایي ادارې په مالي ملاتړ، د اریکو دفتر له لورې د خلورو میاشتو په موده کې بشپړې شوې چې 1200 کورنۍ به ترې ګټه واخلي

## پروژه تحکیم کاری بازوهای کانال قلعه فتح ولایت نیمروز آغاز شد

کار این پروژه با حضور محترم مولوی سید محمد ولی آغا، رئیس حوزه فرعی دریایی هلمند پائینی آغاز و بر سرعت کار آن تاکید صورت گرفت.

پروژه متذکره به هدف جلوگیری از تخریب سیلاب‌ها ، استفاده موثر از آب سیلاب‌های روان در مسیر بند کمال خان و تامین آب مورد نیاز زارعین شهر زرنج راه اندازی شده است.

## د اوبو او انرژۍ وزارت، د افغانستان برېښناشرکت او د ترکمنستان سفارت ترمنځ ګډه ناسته ترسره شوه



یاده ناسته د اوبو او انرژۍ وزارت د سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور، د ترکمنستان هېواد سفیر محترم خواجه اویزوف، د افغانستان برېښنا شرکت رئیس محترم ملا محمد حنیف حمزه، د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ معین محترم ملا عبدالقاهر ادریس، د هرات والي محترم شیخ الحدیث مولانا نوراحمد اسلام جار ، د ترکمنستان هېواد او د افغانستان برېښنا شرکت د یو شمېر نورو مسؤلینو په ګډون ترسره شوه.

د اوبو او انرژۍ وزارت او د ترکمنستان هېواد سفیر د دې ناستې په بهیر کې هوکړه وکړه، چې په راتلونکي کې دې ډېر ژر درې اړخیزه ګډه ناسته د دریو هېوادونو( ترکمنستان، افغانستان او پاکستان) ترمنځ د دریو هېوادونو د وزیرانو په کچه ترسره شي، ترڅو د تاپ (TAP)پروژې د پلي کولو په موخه په هر اړخیزه توګه بحث او د اندونو تبادله وشي.

په پای کې دواړو لورو د ګډو همکاریو د پراختیا او د دواړو هېوادونو د تخنیکي ټیمونو ترمنځ د یادو پروژو د چارو د چټکتیا لپاره د همغږیو په رامنځته کولو باندې ټینګار وکړ.

## د کلیو پراختیا وزارت د ۹ پروژو د وضعیت د څېړلو او ارزولو په هکله د سترو پروژو د څېړنې پلاوي ناسته ترسره شوه

یاده ناسته د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده تر مشرۍ لاندې د کلیو پراختیا او تولګټو وزارتونو د معینانو او اړوندو ادارو د استازو په ګډون ترسره شوه.

د سترو قراردادونو د څېړنې په دې ناسته کې په هرات، کندز، سمنګان، کابل، بلخ، بدخشان، بغلان او لوګر ولایتونو کې د کلیو پراختیا وزارت د انرپ د ۹ پروژو وضعیت تر څېړنې او ارزونې لاندې ونیول شو او د هغوی د ستونزو دهوارولو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د سترو قراردادونو د څېړنې پلاوي به د یادو پروژو تر هر اړخیزې او بشپړې څېړنې وروسته، د خپلو څېړنو پایلې د وړاندیزونو او شونو لارو چارو سره یوځای د یوه بشپړ راپور په ترځ کې د افغانستان اسلامي امارت له اقتصادي کمیسیون سره شریک کړي.

### جلسه هماهنگی میان معینیت انرژی و د افغانستان برشناشرکت برگزار شد

محترم ملا عبدالقاهر "ادریس" معین انرژی وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش با محترم ملا محمد حنیف "حمزه" رئیس عمومی د افغانستان برشنا شرکت، محترم مولوی عبدالرحمن "رحمانی" رئیس تجارتی دافغانستان برشنا شرکت و شماری دیگری از مسئولین شرکت یاد شده جلسه هماهنگی را برگزار نمود.

در این جلسه پیرامون هماهنگی های لازم در مورد مدیریت انرژی، گسترش تولید، توسعه و انکشاف سکتور انرژی در کشور بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

اعضای جلسه به هماهنگی و همکاری های بیشتر در راستای بهبود و تسریع امور انرژی تاکید ورزیدند

### په کابل ښار کې د اوبو د شته ستونزو د هوارولو په موخه د کابل ښاروالۍ له مسؤلینو سره ناسته ترسره شوه

د کابل سینډیزې حوزې عمومي رئیس محترم انجنیر حبیب الرحمن حقپال، د اوبو چارو د تنظیم عمومي رئیس محترم انجنیر نعمان نثار، د اوبو د سرچینو عمومي رئیس محترم انجنیر نثاراحمد مموزي او د ځمکې لاندې اوبو رئیس محترم انجنیر عزیز الرحمن عزیز د کابل ښاروالۍ د تونلیزو او کلتوري چارو مرستیال محترم مولوي حبیب الرحمن منصور سره په کابل ښار کې د اوبو د شته ستونزو د هوارولو په موخه بحث او د اندونو تبادله ترسره کړه.

په دې ناسته کې، په کابل ښار کې د ښو ساحو د خړوبولو په موخه د ځمکې لاندې اوبو پر ځای د سطحي جریانونو او تصفیه شویو فاضلابو څخه ګټه اخیستنه، د اوبو په برخه کې د خپل سرو فعالیتونو منع کولو، عامه پوهاوي او یو شمېر نورو موضوعاتو په هکله اړین تصمیمونه ونیول شول او د اوبو څخه د اغیزمنې ګټې اخیستنې او په کابل ښار کې د اوبو شته ستونزو د هوارولو په موخه پر ګډې همکارۍ باندې ټینګار وشو.

## سرپرست وزارت آب و انرژی با مسئولین‌شرکت گلبهار انویست در مورد سرمایه گذاری روی فابریکه تولید برق از زغال سنگ دیدار کرد



محترم ملا عبداللطیف "منصور" سرپرست وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش در حالیکه محترم ملا عبدالقاهر "ادریس" معین انرژی این وزارت نیز حضور داشت، با محترم حاجی گلبهار حبیبی رئیس شرکت گلبهار انویست و شماری از مسئولین شرکت یاد شده دیدار کرد.

در این دیدار در مورد هماهنگی های لازم به منظور سرمایه گذاری شرکت متذکره برای ایجاد فابریکه تولید برق از منابع ذغال سنگ به ظرفیت 100 الی 200 میگاوات بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

سرپرست وزارت آب و انرژی از مسئولین‌شرکت گلبهار انویست و مسئولین تخنیکی وزارت خواست تا بررسی های لازم را هرچه زود تر انجام و آغاز کار عملی پروژه را تسریع بخشد

## د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د نورستان ولایت له امنیه قوماندان او د علماوو شورا له رئیس سره وکتل



د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین محترم ملا عبدالقاهر ادریس د خپل کار په دفتر کې د نورستان ولایت له امنیه قوماندان محترم مفتي محمد یوسف، د علماوو شورا رئیس محترم مولوي ولي الرحمن او د یاد ولایت له یو شمېر مشرانو سره وکتل.

په یاده لیدنه کې،د یاد ولایت د بېلابېلو موضوعاتو په خانګړې توګه د انرژي ستونزو د هوارولو او د پروژو د پلي کولو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د انرژي محترم معین د نورستان ولایت امنیه قوماندان، د علماوو شورا رئیس او مشرانو ته ډاډ ورکړ چې د شته امکاناتو او متوازني پراختیا په پام کې نیولو سره به د دوی ستونزو ته رسیدګي وشي.

## د لوګر سیندیزې فرعي حوزې رئیس د HRDAمؤسسې له ولایتي مسؤل سره وکتل

د لوګر سیندیزې فرعي حوزې رئیس ملا محمد اسماعیل آخندزاده، د HRDA مؤسسې ولایتي مسؤل عصمت الله اتل سره وکتل او په یاد ولایت کې یې د اوبو پراختیایي پروژو په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه.

په یاده غونډه کې دواړو لورو د اوبو پراختیایي پروژو په برخه کې یو بل ته د همکارۍ همغږۍ ډاډ ورکړ.

## جلسه پیرامون جلوگیری از غصب حریم و آلوده ساختن آب کانال عمومی شاهروان در ریاست حوزه فرعی دریایی تالقان برگزار شد

جلسه مذکور تحت ریاست مولانا صبغت الله قانع رئیس حوزه فرعی دریایی تالقان با اشتراک روئسای اقتصاد و امر باالمعروف و نهی عن المنکر، نماینده‌گان ریاست شورای علمای ولایت تخار، حفاظت محیط زیست، شاروالی و رئیس انجمن استفاده کننده گان آب و میراب باشی های کانال عمومی شاهروان برگزار شد.

در این جلسه پیرامون جلوگیری از غصب حریم و آلوده ساختن آب کانال عمومی شاهروان بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

## و سایط، ماشینری و اجناس 10 حوزه دریایی بررسی و تثبیت گردید

محترم مولوی حمیدالله دلاور، رئیس اداری وزارت آب و انرژی همراه با محترم محمد حسین احدی، آمر تخنیک و ترانسپورت و محترم فضل الرحمن زرمتی، آمر محاسبه اجناس و دیپوها طی سفری به حوزه عمومی دریایی هلمند، حوزه فرعی دریایی وسطی هلمند، حوزه فرعی دریایی هلمند پائینی، حوزه فرعی دریایی ترینکوت، حوزه فرعی دریایی قلات، حوزه فرعی دریایی کندهار، حوزه عمومی دریایی هریرود- مرغاب، حوزه فرعی دریایی فراه، حوزه فرعی دریایی مرغاب- قلعه نو بادغیس و حوزه فرعی دریایی هریرود پائینی وسایط، ماشینري واجناس حوزه های متذکره را بررسی و تثبیت نمودند

## د سترو قراردادونو د څېړلو غونډه د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو په معینیت کې ترسره شوه




یاده غونډه د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین، ښاغلي مجیب الرحمن عمر آخندزاده تر مشرۍ لاندې د اړونده وزارتونو او اداراتو د معینانو او استازو په ګډون ترسره شوه.

په یاده غونډه کې د ټولګټو وزارت د 9 پروژو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه او همدارنګه، تر هر اړخیزې څېړنې وروسته، د پلي شویو پروژو د کیفیت د کنټرول په برخه کې اړین تصمیمونه ونیول شول.

د یادولو وړ ده، چې یاد پلاوی د افغانستان اسلامي امارت د کابینې له لوري ټاکل شوی، ترڅو ټول ستر قراردادونه تر څېړنې او مطالعې لاندې ونیسي او په پای کې د خپلو څېړنو پایلې په یوه بشپړ راپور کې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي کمیسیون ته وړاندې کړي.

## چهار پروژه با هزینه تقریبا 14 میلیون افغانی در ولایت لغمان به بهره برداری سپرده شد

چهار پروژه به ارزش تقریبا 14 میلیون افغانی در ولسوالی علینگار ولایت لغمان با حضور محترم قاری زین العابدین عابد والی لغمان، محترم مولوی شیرجان راشدی، رئیس حوزه فرعی دریایی لغمان، مسئولین سازمان غذایی جهان و شماری از بزرگان به بهره برداری سپرده شد.

در این پروژه ها اعمار جوی سخره کوخی، دیوارهای محافظوی سرخه کوخی، کوندیله نالیار و ادهار کجگره و سوپر پسیج قریه شاهی شامل بودند.

کار پروژه های مذکور در ظرف 9 ماه تکمیل و به بهره برداری سپرده شد، که با به بهره سپردن آنها مشکل آب صدها فامیل رفع و هزاران جریب زمین زراعتی از خطر سیلاب ها محفوظ شد.

پروژه های متذکره با حمایت مالی سازمان غذایی جهان تحت نظارت حوزه فرعی دریایی لغمان تطبیق شد که در آن برای صدها تن زمینه کار مساعد گردیده بود.

## په کاپیسا ولایت کې د پنځو پروژو چارې د څه باندې ۳۰۰ زره آمریکایي ډالرو په ارزښت پیل شوې

په کاپیسا ولایت کې د قول شاغاسي کلي د بوله غین سیلبر غاړو تحکیم او د ده بابې، نورالدین خیلو، قول پرچاو او بادام علي سیندونو د غاړو تحکیمات د دري سوه نهه زره او اووه سوه نوي (309790) آمریکایي ډالرو په ارزښت د کاپیسا مرستیال والي محترم شیخ اسدالله سنان، د کاپیسا سیندیزې فرعي حوزې رئیس محترم انجنیرکاوه خروش او یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې پیل شوې.

په یادو پروژو کې ۷۹۰ متره ګابیون کاري او ۳۲۵ متره سنګ کاري شامل دي او ټاکل شوې ده چې د یادې پروژې چارې د روان لمریز کال د لږم په میاشت کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## پروژه اعمار یک بند در ولایت غزنی با هزینه 18 میلیون افغانی آغاز شد

پروژه اعمار یک بند متوسط با هزینه 18 میلیون افغانی در قریه زیرک ولسوالی جاغوری ولایت غزنی با حضور محترم انجنیر محمد نذیر سهار، مشاور تخنیکی حوزه فرعی دریایی غزنی، ولسوال و قوماندان امنیه ولسوالی متذکره و شماری از بزرگان آن ولسوالی افتتاح گردید.

بند متذکره که با ارتفاع ۱۵ متر، عرض 9 متر و در بخش پائینی به طول 22 متر اعمار می‌گردد، ظرفیت ذخیره نمودن 93 هزار متر مکعب آب، تولید 3 کیلو وات برق و آبیاری 380 هکتار زمین زراعتی را خواهد داشت و 385 فامیل به شکل مستقیم از آن استفاده خواهند کرد.

پروژه اعمار بند متذکره با حمایت مالی مردم محل تحت نظارت حوزه فرعی دریایی غزنی به پیش برده می‌شود.

## د اوبو او انرژۍ وزارت د مرکزي ریاستونو د انرژۍ سیما او مشریت په موخه سروې جریان لري

د اوبو او انرژۍ وزارت د پایداري انرژۍ ریاست د تخنیکي ټیم له خوا د انرژۍ سیما او مشریت په موخه سروې جریان لري.

یاده سروې د مرکزي ریاستونو د ټولو دفترونو د برېښنا د اعظمي لګښت د معلوملو او په راتلونکې کې د وزارت برېښنایي سیستم په سولري سیستم د بدلولو په موخه ترسره کېږي.

## سرپرست وزارت آب و انرژی با ولسوال و بزرگان ولسوالی چرخ ولایت لوگر دیدار کرد



محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با مولوی رفیع الله محمد عبدالله ولسوال چرخ ولایت لوگر و بزرگان ولسوالی متذکره دیدار نموده در مورد مشکلات مردم آن ولایت در بخش های آب و انرژی بحث و گفتگو نمودند.

در این دیدار موسفیدان ولسوالی چرخ ولایت لوگر مشکلات و پیشنهادات خویش را با سرپرست وزارت آب و انرژی شریک نموده خواستار تطبیق پروژه های آب و انرژی به ویژه ایجاد سب استیشن برق در مرکز آن ولسوالی شدند.

سرپرست وزارت آب و انرژی به ولسوال و بزرگان ولسوالی چرخ اطمینان داد که هیئت تخنیکی به منظور سروی پروژه ها به ولسوالی متذکره اعزام خواهد شد و با درنظر داشت امکانات موجود به مشکلات آنها رسیدگی صورت خواهد گرفت.

## تفاهمنامه همکاری مشترک برای سرمایه گذاری در پروژه تولید 200 میگاوات برق بادی باشرکت77 ترکی به امضا رسید

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی تفاهمنامه همکاری مشترک برای سرمایه گذاری روی پروژه تولید برق از منابع بادی به ظرفیت 200 میگاوات در ولایت هرات را با محترم سلیمان جیلیو رئیس شرکت 77 ترکی به امضا رساند.

در برنامه امضای این تفاهمنامه محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت انرژی و آب، محترم بوراک اونسال معاون شرکت 77، محترم امره مناو معاون سفارت ترکیه، محترم امره اونال اتیشه تجارتی سفارت ترکیه، مشاورین و روسای وزارت آب و انرژی نیز حضورداشتند.

سرپرست وزارت آب و انرژی در هنگام امضای این قرارداد، همکاری های قبلی شرکت 77 با این وزارت به ویژه تطبیق پروژه برق سولری ولایت کندهار و پروژه فاز دوم بند کجکی را ستوده همچنان امضای این تفاهمنامه را در راستای انکشاف تولید انرژی در کشور برای مردم افغانستان ارزشمند خواند.

از سوی هم رئیس شرکت 77 ترکی با ابراز قدردانی از همکاری های رهبری وزارت آب و انرژی به توسعه و گسترش سرمایه گذاری های خویش در پروژه های آب و انرژی در افغانستان وعده سپرد.

وی همچنان به حیث رئیس اتحادیه تجاران کشور ترکیه، با دعوت از طریق رسانه ها به سرمایه گذاران کشور خویش اطمینان داد که در حال حاضر در افغانستان بهترین فرصت کاری در یک فضای امن و خلوص مهیا بوده و امارت اسلامی افغانستان مطابق به تعهدات خویش پرداخت های مالی را به وقت معین و طریق احسن اجرا می نماید.

قابل ذکر است که مطابق این تفاهمنامه مسئولین تخنیکی وزارت آب و انرژی و شرکت 77 همکاری های مشترک خویش را در راستای انجام مطالعات و تحقیقات لازم برای تطبیق پروژه تولید 200 میگاوات برق از منابع بادی در ولایت هرات آغاز می نمایند.

در ختم این برنامه محترم انجنیر فرهاد محمودی، رئیس برنامه های انرژی به سوالات خبرنگاران پاسخ های لازم ارائه کرد.

### د پل علم له غصب شوې ساحې او د یاد پله د رسوباتو څخه لیدنه وشوه

د لوګر سینډیزې فرعي حوزې رئیس محترم ملا محمد اسماعیل آخندزاده او ورسره مل په یاد ولایت کې د ځمکو د غصب د مخنیوي کمېټې رئیس او غړو د پل علم د غصب شوې ساحې او د یاد پله د رسوباتو څخه چې د سیند اوبو مسیر د بدلون لامل شوی، لیدنه وکړه.

یادو مسؤلینو پرېکړه وکړه چې تر راتلونکې شنبې پورې دې د پل علم او د سیند د غصب شوې ساحې د رسوباتو پروپوزل چمتو او ولایت مقام ته دې وړاندې شي، ترڅو عملي چارې یې پیل شي.

### ازجریان کار ساختمانی سربند کانال یک لینـــگی در ولایـــت ارزگان نظارت صـــورت گرفت

مسئولین حوزه فرعی دریایی ترینکوت از جریان کار ساختمانی سربند کانال یک لینگی در مربوطات ترینکوت مرکز ولایت ارزگان نظارت نمودند و به مسئولین پروژه به منظور پیشبرد بهتر امور هدایات لازم دادند.

کار پروژه متذکره با حمایت مالی موسسه FAO تحت نظارت حوزه فرعی دریایی ترینکوت به پیشبرده می‌شود.

### په پکتیکا ولایت کې د دربو کاریزونو سروې ترسره شوه

د ګوملې سینډیزې فرعي حوزې مسؤلینو په همکارۍ د پکتیکا ولایت په خیر کوټ ولسوالۍ کې د دربو کاریزونو سروې د ناروېژن موسسې د مسؤلینو له خوا ترسره شوې.

یاد کاریزونه د ۶۹۰۰ جریبه ځمکې د خړوبولو وړتیا لري او ۲۱۰۰ کورنۍ ورڅخه ګټه اخلي.

## جلسه هماهنگی به منظور آغاز کار عملی پروژه تولید 72 میگاوات برق از منابع ذغال سنگ با مسئولین شرکت عوفی بهرام برگزار شد



محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در یک جلسه با مسئولین شرکت تجارتی استخراج و پروسس معادن عوفی بهرام در مورد آغاز کار عملی پروژه ایجاد فابریکه تولید برق به ظرفیت 72 میگاوات در ولایت پکتیکا، بحث و تبادل نظر نمودند.

در این دیدار مسئولین شرکت متذکره آمادگی خویش را به آغاز کار عملی ابراز داشته هردو جانب روی تسریع امور ابتدایی به منظور فراهم سازی زمینه شروع کار عملی تاکید ورزیدند.

همچنان در این دیدار مسئولین شرکت یاد شده علاقه مندی خویش را به انجام فعالیت های بانکداری اسلامی در افغانستان نیز ابراز نمودند، که در این زمینه سرپرست وزارت آب و انرژی از علاقه مندی آنها ابراز قدردانی نموده به آنها اطمینان داد که در بخش های مربوطه وزارت آب و انرژی با آنها همکار خواهد بود.

قابل ذکر است که چندی قبل به منظور تطبیق پروژه تولید 72 میگاوات برق از منابع ذغال سنگ میان وزارت آب و انرژی و شرکت متذکره تفاهم نامه همکاری به امضا رسیده است.

## شماری از سرمایه گذاران خارجی و داخلی در دیدار با معین آب علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری در افغانستان ابراز کردند

محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت آب و انرژی با شماری از سرمایه گذاران چینایی و افغانی دیدار نموده پیرامون سرمایه گذاری روی پروژه های انکشافی آب و انرژی در افغانستان صحبت نمودند.

در این دیدار سرمایه گذاران متذکره علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری روی پروژه های آب و انرژی به ویژه پروژه های تولید برق از منابع ذغال سنگ در افغانستان ابراز داشته خواستار ایجاد تسهیلات لازم برای فراهم سازی زمینه سرمایه گذاری از سوی وزارت آب و انرژی شدند.

محترم معین آب به آنها اطمینان داد که در حال حاضر بهترین فرصت های سرمایه گذاری در افغانستان موجود بوده و مقام رهبری وزارت آب و انرژی در این راستا با انجام همکاری های لازم، از علاقه مندی سرمایه گذاران نیز استقبال می نماید.

## د قرغې بند د حریم او زونونو د تثبیت په موخه ګډ تخنیکي پلاوی و ټاکل شو

د کابل سیندیزې عمومي حوزې مسؤلینو د قرغې بند د حریم او زونونو د تثبیت په موخه ګډ تخنیکي پلاوی وټاکل شو.

نوموړي تخنیکي پلاوی به د اوبو سرچینو او اوبیزو تاسیساتو د حریم د کړنلارې پر بنسټ د یاد بند اړوند حریم، چاپیریال، لومړی او دوهم زون او یادو حریمونو کې به د خیل سرو تاسیسات او غصب شوې ساحې تثبیت او له اړوندو مسؤلینو سره شریک کړي.

**مسئولین شرکت " چینایی ایگل کین داو " همراه با تیم تخنیکی وزارت آب و انرژی به منظور تثبیت ساحه پروژه تولید برق از منابع ذغال سنگ به ولایت کاپیسا سفر نمودند**

این سفر مطابق هدایت مقام رهبری وزارت آب و انرژی با هماهنگی مقام ولایت کاپیسا و حوزه فرعی دریایی آن ولایت، به هدف سروی و تثبیت ساحه پروژه تولید برق از منابع ذغال سنگ به ظرفیت 50 الی 100 میگاوات تنظیم گردیده بود.

مسئولین شرکت یاد شده و تیم تخنیکی وزارت در نخست با محترم شیخ اسدالله سنان معاون والی کاپیسا دیدار نمود که از طرف ایشان وعده همکاری همه جانبه داده شد.

قابل ذکر است که این هیئت، ساحات مناسب برای احداث پروژه متذکره را بررسی و تثبیت خواهند کرد که پس از سروی آن، تیم مشترک تخنیکی وزارت و شرکت یاد شده مطالعات امکان سنجی پروژه را آغاز خواهند کرد.

## جلسه رهبری وزارت آب و انرژی به منظور حل مشکلات چالشها و تسریع کار پروژه های این وزارت برگزار شد



این جلسه تحت رهبری محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با حضور محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب این وزارت و روئسای عمومی سکتور های آب و انرژی برگزار گردید.

در این جلسه پیرامون هماهنگی های لازم جهت حل مشکلات امور مالی دیزاین تفصیلی پروژه بند پاشدان ولایت هرات و پروژه فاز سوم بند کمال خان ولایت نیمروز بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در جریان جلسه مسئولین تخنیکی در مورد وضعیت پروژه های متذکره، مشکلات و راه حل های ممکن آنها معلومات لازم را با مقام رهبری وزارت آب و انرژی شریک نمودند.

سرپرست وزارت آب و انرژی پس از شنیدن معلومات و پیشنهادات مسئولین تخنیکی سفارشات لازم را ارائه نموده به تسریع انجام امور پروژه های یادشده تاکید ورزید.

## د هلمند ولایت د کجکي بند د دوهم فاز پروژې قرارداد وځېړل شو

د هلمند ولایت د کجکي بند د دوهم فاز پروژې د هر اړخيزې څېړنې په هکله د سترو قراردادونو د څېړلو رهبري پلاوي ناسته ترسره شوه.

دغه ناسته د اوبو او انرژۍ وزارت د سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور تر رهبرۍ لاندې د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده، د کلیو پراختیا وزارت معین محترم مفتي سید احمد مستقیم، د اقتصاد وزارت معین محترم ډاکټر عبداللطیف نظري، د ټولګټو وزارت معین محترم عبدالکریم فاتح، د ملي تدارکاتو ریاست مرستیال محترم شیخ عبدالرحیم رحیمي، د ۷۷ ترکي شرکت د استازي محترم بوراک اونسال او د سترو قراردادونو د څېړنې پلاوي د تخنیکي ټیم په ګډون ترسره شوه.

په یاده ناسته کې د ټاکل شوې کمیټې راپور چې مخکې د رهبرۍ پلاوي له خوا د نوموړي قرارداد د څېړلو په موخه ټاکل شوې وه، تر مطالعې لاندې ونیول شو او د قرارداد د بېلابېلو اړخونو تر هر اړخیزې څېړنې وروسته، د قراردادي شرکت له استازي سره د همغږۍ په موخه د ځینو شته ننګونو او ستونزو د هوارولو په هکله په بشپړه توګه بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د رهبري پلاوي غړو او قراردادي شرکت استازي هوکړه وکړه چې د قرارداد د اړخونو او لا زیاتې مطالعې او په بېلابېلو عادي او غیر عادي حالاتو کې دهغې د پلي کولو په پار لا زیاتې څېړنې ترسره کړي، ترڅو په راتلونکې ناسته کې په دې اړه وروستی هوکړې ترسره شي.

### د پورتني پنجشیر "بازارک" سینډیزې فرعي حوزې د ۴ تشو بستونو لپاره سیالیزه آزموینه ترسره شوه

د دغې سیالیزې آزموینې برنامه د اوبو او انرژۍ وزارت د بشري سرچینو رئیس محترم ملا اسدالله کاکړ په شتون کې ترسره شوه، چې پکې ۳۱ کسانو ګډون کړی و.

د اوبو او انرژۍ وزارت د بشري سرچینو رئیس د دې سیالیزې آزموینې په بهیر کې ګډون کوونکو ته د ورتیا پر بنسټ د ګمارلو پروسې د روڼتیا داډ ورکړ.

### به منظور اعمار بند شفلوغ ولایت ارزگان نمونه‌های مواد محلی جهت آزمایش انتخاب گردید

تیم مشترک وزارت آب و انرژی، شرکت انکشاف ملی و شرکت (Shawall construction and Geotechnical company) در همراهی با تیم انجنیری حوزه فرعی دریایی ترینکوت، نمونه‌های مواد محلی در مربوطات منطقه شفلوغ ولسوالی چنارتوی ولایت ارزگان را به منظور اعمار بند شفلوغ این ولایت انتخاب نمودند.

مواد انتخاب شده جهت آزمایش در لابراتور به کابل انتقال داده شد.

### د پلخمري او مرکزي بغلان ولسوالیو د خلکو تر منځ د حقابې او د اوبو د تنظیم د ستونزې د هوارولو په موخه ناسته ترسره شوه

یاده ناسته د بغلان سینډیزې فرعي حوزې رئیس محترم مولوي محب الله عادل تر مشرۍ لاندې د اړوندو ریاستونو د استازو او میرابانو په ګډون ترسره شوه.

په دې ناسته کې د پلخمري او مرکزي بغلان ولسوالیو د اوبو د حقابې او د اوبو د ویش د ستونزې د هوارولو په موخه بحث او د اندونو تبادله وشوه او په دې برخه کې لازم تصمیمونه ونیول شول.

# د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د افغان ویند جنریشن پاور تولیدي‌شرکت له مسئولینو سره وکتل




د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین ښاغلي ملا عبدالقاهر ادریس د خپل کار په دفتر کې د افغان ویند جنریشن پاور تولیدي شرکت له مسئولینو سره وکتل او د گازو له سرچینو څخه د برېښنا د تولید او په یاده برخه کې د پانگوالو د جلبولو په هکله یې بحث او د اندونو تبادله وکړه.

په دې لیدنه کې، د یاد شرکت مسئولینو په هېواد کې د گازو له سرچینو څخه په گټې اخیستنې سره د برېښنا د تولید په برخه کې د پانگونې لیوالتیا څرگنده کړه.

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د یاد شرکت له مسئولینو سره د همکاري ژمنه وکړه او برېښنا ته د افغانستان د خلکو د اړتیا یادولو ترڅنگ یې په هېواد کې د برېښنا د تولید د چټکتیا غوښتنه وکړه

## جلسه اداری و تخنیکی معینیت انرژی در مورد نهایی سازی طرح مدیریت انرژی کشور و شماری دیگر از موضوعات مهم این معینیت برگزار شد

این جلسه تحت ریاست محترم ملا عبدالقاهر " ادریس" معین انرژی وزارت آب و انرژی با حضور روئسا و مسئولین تخنیکی سکتور انرژی برگزار گردید.در این جلسه پیرامون نهایی سازی طرح مدیریت انرژی کشور، نهایی سازی پلان پنج ساله سکتور انرژی و سایر موضوعات مهم مرتبط به مدیریت و تنظیم خدمات انرژی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در جریان جلسه روئسا و مسئولین تخنیکی در مورد فعالیت ها و اجراآت خویش در راستای نهایی سازی طرح مدیریت انرژی کشور و پلان پنج ساله سکتور انرژی به صورت مفصل معلومات داده دیدگاهای خویش را با محترم معین انرژی شریک ساختند.

محترم معین انرژی پس از بررسی همه جانبه تمام موضوعات مورد بحث، سفارشات لازم را جهت انسجام، هماهنگی و تسریع انجام امور به مسئولین ذیربط ارائه کرد.

## سخنگوی جدید وزارت آب و انرژی به همکاران معرفی شد

محترم قاری انجنیر مطیع الله عابد به حیث سخنگوی وزارت آب و انرژی، توسط محترم الحاج غلام جیلانی حق پرست رئیس اطلاعات و نشرات این وزارت در حالیکه محترم مولوی عزیزالله سهار رئیس تفتیش داخلی، مولوی حمیدالله دلاور رئیس اداری و شماری دیگری از مسئولین وزارت نیز حضور داشتند به همکاران معرفی شد.

محترم قاری انجنیر مطیع الله عابد دارای سند لیسانس در رشته کمپیوتر ساینس، فارغ التحصیل علوم دینی و حافظ قرآن کریم بوده همچنان دارای تجربه کاری چندین ساله در بخش تدریس علوم دینی می باشد.

آقای عابد قبل از این در ریاست تکنالوژی معلوماتی وزارت آب و انرژی ایفای وظیفه می نمود، اکنون بر اساس لزوم دید رهبری وزارت به حیث سخنگو تعیین گردید.

## د بغلان سینديزې فرعي حوزې رئيس د گرگرک، قمارق او باغ شمال کانالونو د ټولنو رئیسانو او اوبو میرانو سره وکتل

د بغلان سینديزې فرعي حوزې رئیس مولوي محب الله عادل د گرگرک، قمارق او باغ شمال کانالونو د ټولنو رئیسانو او اوبو میرانو سره وکتل او د یادو کانالونو د حقابو په هکله یې بحث او د اندونو تبادله وکړه.

په یاده لیدنه کې، د بغلان فرعي سینديزې حوزې رئیس د یادو کانالونو د حقابو د ستونزو د حل په برخه کې د همکاري ژمنه وکړه.

## رئیس حوزه فرعی دریایی لوگر با هیئت ریاست تعقیب و نظارت فرمان‌ها و احکام دیدار کرد

محترم ملا محمد اسماعیل آخندزاده، رئیس حوزه فرعی دریایی لوگر با هیئت ریاست تعقیب و نظارت فرمان‌ها و احکام امیرالمومنین(حفظه الله ) دیدار کرد.

هیئت متذکره پیرامون تعقیب و نظارت فرمان‌ها و احکام امیرالمومنین (حفظه الله ) هدایات وتوصیه‌های لازم داد و در این راستا خواستار همکاری شد.

در همین حال، آقای آخندزاده به هیئت متذکره اطمینان همکاری داد.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لیکوال: دوکتور فاروق اعظم

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم. اما بعد

**دوستانو!**

تېره یکشنبه، ۳۰ اپریل ۲۰۲۳م مې یو لیک په انگلیسي ژبه د ملگرو ملتو د مؤسسې سرمنشي ښاغلی انتونیو گوتیریش ته واستاوه. هغه مې په موجه دلائلو تشویق کړ، چې په قریب الوقوع کنفرانس کې چې په دوحه کې د افغانستان په باره کې جوړېږي، ترېوال وهڅوي چې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. که څه هم دا لیک مې تر استولو دمخه د امارت د مسؤلو چارواکو سره مطرح کړی دی، خو بیا مې هم د امارت په نمایندگۍ نه بلکې په مسائلو د یوه آگاه افغان په حیث ورته لیکلی دی. د لیک کاپي مې د امارت مسؤل چارواکو او د ملگرو ملتونو د مؤسسې د امنیت شورۍ غړو ته لېږلی ده. لیک و سرمنشي ته رسیدلی او په کابل کې د ملگرو ملتو د مؤسسې دفتر ته هدایت سویدی چې زما سره په مورد کې د مزید وضاحت لپاره وگوري. د هیئت سره مې ولیدل. مجلس ډېر گټور و، د لیک پښتو ژباړه داسې ده:

## د ملگرو ملتونو عمومي منشي ته د دوکتور فاروق اعظم پرانیستی لیک!

تر فائقه احتراماتو وروسته، زما چې د افغانستان د سیاست سره تر نیمي پېړۍ ډېر سروکار دی او اکثر په دننه هیواد کې اوسم، دادی ستاسو سره له کابل څخه د زړه خواله کوم. د افغانستان په سیاست کې زما تر نیمي پېړۍ اوږده تجربه د خطر زنگ وهي، چې افغانستان نور مه تجرید کوئ. د نړیوالې ټولنې موجوده د تماس پالیسي نه یوازې مثمره نه ده، بلکې افغانان یې ډېر کړولي دي او د نړیوال امنیت خطرات په خپته کې روزي. د افغانستان په اوسني تجرید سره، په حقیقت کې د ۲۰۰۱-۱۹۹۶م سهوي او ترخې تجربې بیا تکرارېږي. اوس وخت دی چې افغانان او نړیوال دواړه له تېرو ترخو تجربو پند واخلي او پخواني سهوي تکرار نه کړي.

کله چې طالبانو په ۱۵ اگست ۲۰۲۱م کې د تېر حکومت تر سقوط وروسته د قدرت واگې په لاس کې ونیولې، نړیوالې ټولنې ته یې له همغه اولې ورځې د تفاهم لاس اوږد کړ. طالبانو په همغه اول سر کې څو مهم کارونه وکړه چې له بده مرغه نړیوالو جدي ونه نیول. مثلا:

1) د کابل حکومت تر سقوط وروسته، امریکا د دوو اونیو په کمه موده کې د کابل له هوایي میدان څخه ۱۲۳۰۰۰ افغانان وایستل. طالبانو پر خپل غرور پښه کښېښووله او د امریکا او ناټو سره یې ددغه عملیاتو په کامیابۍ کې مرسته وکړه.

(۲) عامه عفو: امارت د قدرت له لومړۍ ورځې خپلو هغو ټولو دښمنانو ته عفو وکړه، چې د امریکا د حضور په شل کلنه دوره کې یې پر طالبانو ظلمونه کړي وه؛ حتی هغه خلکو ته یې هم عفو وکړه او اوس پېره پر کوي چا چې د سرو زرو مډال د هر هغه خارجي پر سینه ورټومبلی و چې ډېر مجاهدین یې شهیدان او ډېر کورونه یې وران کړي وه. دا یو عظیم کار و، چې د نړۍ تاریخ یې کم مثال لري.

(۳) امارت د پخواني حکومت ټول مامورین پخپل حکومت کې د ځان سره ساتلي دي. په دغو کې داسې کسان ډېر دي چې پخوا د طالبانو سره په مستقیمه دښمنۍ کې ولاړ وه. دا یو بې سارې تحمل او پراخه لمن ده، چې امارت غواړي ټول افغانان بیله تبعیضه په غېږ کې ونیسي، پر زخمونو یې پټۍ کښېږدي او له دې لارې ملي وحدت تقویه کړي.

(۴) همه شمول حکومت: په تېر نظام کې شل کاله جنگ پر پښتنو تحمیل و. پښتنو په حکومت کې د خپل نفوس په تناسب ډېره کمه ونډه درلوده؛ د حکومت اکثر کارکوونکي غیر پښتانه وه. د امارت په راتلو سره د تېر حکومت د سر خلک وتښتیدل او نور پاته دي. امارت د پخواني حکومتي کارکوونکو په ساتلو سره وښووله چې اوسنی حکومت همه شمول دی.

(۵) امارت د خپل تېر دور په خلاف دا واري په اول سر کې نجونې مدرسو او ښځې کار ته پرې ایښې وې. ښځې په خارجي مؤسسو کې له کاره په دا نژدو وختو کې هغه وخت منع سوې چې امارت پوه سو نړیوال د امارت حسن نیت ته توجه نه کوي.

(٦) امارت په داسې حال کې چې د هیواد مکمل کنټرول یې په لاس کې دی، د ټولو نړیوالو تعاملاتو د سرته رسولو اهل دی او خپل مسؤلیتونه په ښه توگه ترسره کولای سي. اوس نړیواله ټولنه یو مسؤل او قابل

اعتماد انديوال په افغانستان کې لري چې تېر څلور لسیزې یې نه درلود.

(۷) د فساد ډېر کمښت: تر ۱۵ اګست ۲۰۲۱م دمخه د افغانستان حکومت د دنیا فاسدترین و. ‌نن فساد، که اخلاقي دی او که اداري، په افغانستان کې حد اقل دی. که دنیا د افغانانو سره مرسته وکړي، دغه مرستې اوس د پخوا په نسبت ډېر ښه مستحقو ته رسیږي او د حالاتو په مثبت تغییر کې به مؤثر واقع سي.

(۸) مخدره مواد: امارت د مخدره موادو تولید او تجارت بند کړ، کوم چې امریکا او ناټو په تېر شل کاله کې او تر هغه دمخه روسانو ونکړای سو. په دغه لار کې امارت مشکلات هم ګاللي دي او حتی د خپلو ملاتړو سره یې برخوردونه پرکړي دي. دا د طالبانو لخوا د نړیوالو سره د مرستې او همکارۍ لوی ثبوت دی. خو نړیوالو د امارت دغه مهم مثبت قدم ته توجه ونکړه.

(۹) امارت: په زرو د مخدره موادو معتادین چې اکثریت یې هزاره او تاجک دي او په ډېر غیر انسانی حالت کې یې ژوند کاوه، راټول او تر تداوي لاندې ونیول. دغو بدمرغه انسانانو د ښار تر پلونو لاندې په کثافاتو کې ژوند کاوه او په بازارونو کې خیرن کالي او علیل صحت ګرځیدل. اوس هغوی ټول تر تداوي لاندې نیول سوي او یوه آبرومنده ژوند ته برابر کړه سویدي. امارت توقع درلوده چې نړیواله ټولنه به ددغه بشري ناورین په قابو کولو کې چې له تیرحکومته ورپاته دی، مرسته وکړي.

(۱۰) له ګدایګرو سره مرسته: په تیر حکومت کې چې یې دریغه نړیوال ملاتړ یې درلود، د فقیرانو او ګدایګرو یو لښکر په هر ښار کې موجود و. پخوا د ښار د هر نانوايي مخته به په لسهاؤ ښځې، ماشومان په غیر کې، د یوې ګولۍ خیرات په انتظار ټوله ورځ په یخ او ګرمی کې ناستې وې. امارت په زرو دغه ګدایګر له ښارونو راټول کړل؛ مستحق یې تشخیص او د خپلې کمزورې بودجې باوجود یې ټولو ته پر کور معاش حواله کړ. نړیوالې ټولنې ددغه بشري ناورین په ختمولو کې د امارت سره مناسب چلند ونه ښود.

(۱۱) د داعش او نورو افراطي ډلو سره جنګ: امریکا او متحدینو یې بار بار تائید کړې ده، چې امارت د داعش او خوارجو سره په سخت جنګ کې ولاړ دی. امارت زموږ ګاونډیان او نړیوال مطمئن کړي دي چې له افغانستان څخه ګاونډیانو او نورې دنیا ته هیڅ ډول خطر نسته. خو نورو دا کار نه دی کړی؛ د امارت مخالفین یې ساتلي او د امارت ضد فعالیت ته یې تشویق کړي دي.

(۱۲) افغانستان د سیمې د اتصال محور: تیر دوه سوه کاله افغانستان د لویو طاقتونو ترمنځ حائله نکته وه. اوس امارت کوښښ کوي چې افغانستان د سیمې او نړۍ د اتصال محور سي. د نړیوالو بندیزونو او نورو محدودیتونو سره سره، امارت کوښښ کوي چې افغانستان د سیمې او نړۍ سره د دوستۍ محل او د اتصال محور سي چې ګټه یې خان، سیمې او نړیوالو، ټولو ته ورسیږي.

**جنابعالي!** نړیوالې ټولنې، له بده مرغه، د امارت دا دومره مثبتو اقداماتو اود نړیوالو سره د حسن تفاهم هڅو ته جدي توجه ونکړه او د همکارۍ او باهمي تعاون هغه لاس چې امارت له لومړۍ ورځې نړیوالې ټولنې ته ور اوږد کړی و، ونه نیو. په نتیجه کې اوس د غرب او طالبانو ترمنځ د بې اعتمادۍ یوه فضاء رامنځته سویده چې دوام یې مضر او رفع یې ضرور ده. زه کوښښ کوم د یو داسې ځا په حیث چې په حالاتو آګاه یم د لارې په پیدا کېدو کې د ذیدخله اړخونو سره مرسته وکړم. غرب تور لګوي چې طالبانو په دوحة کې د خپلو وعدو خلاف کابل په زور ونیو. خو امارت دا نه مني او وایي چې د اشرف غني حکومت خپله له دننه د امریکایانو په قوي نظامي حضور کې سقوط سو. غربیان همداسي ادعا کوي چې طالبان بشري حقوق نه مراعاتوي. خو امارت بیا وایي غرب نه په مذاکراتو کې مخلص او نه په معاملاتو کې صادق دی؛ جنګ یې نه دی ختم کړی، بلکې د جنګ بڼه یې بدله کړې ده؛ امارت په رسمیت نه پیژندل یې بیلګه ده. امارت ادعا کوي چې:

- جنګ تراوسه نه دی ختم: د افغانستان فضا اوس هم د امریکا په کنترول کې ده. امریکایي درون د افغانستان پر فضا شپه او ورځ ګرځي، د امارت مشران تهدیدوي. دغه سبب دی چې د امارت ځوانانو لا تر اوسه د ارام ساه نه ده اخیستې او د هرې ناګوارې واقعې لپاره په سنګر کې تیارسۍ ناست دي.

- زهرجن تبلیغات نه دي بند: که تاسې د غربي نړۍ هره رسنۍ ولولئ، رادیو ته غوږ سئ او تلویزون وګورئ، د طالبانو او امارت پرضد تبلیغات دي. غربي حکومتونه ټولو هغو رسنیو ته مالي مرسته ورکوي چې د امارت پرضد ناروا تبلیغات کوي. د ټولو تلاش دادی چې امارت د دنیاوالو په نظر په دروغو بدنام کړي. تبلیغاتي جنګ لا نه دی ختم.

- د افغانستان په داخلي امورو کې مداخله. همدا اوس زموږ د ځینو ګاونډیانو په شمول یو شمیر هیوادونو نه یوازې د امارت دښمنانو

ته پناه ورکړې ده، بلکې هغوی ته یې د امارت پرضد د فعالیت اجازه هم ورکړې ده. د امارت دښمنان په دغو هېوادونو کې مجلسونه دایروي او دوی یې تمویلوي. تعجب دادی چې نړیواله ټولنه د امارت څخه غواړي چې د نورو هیوادونو په داخلي چارو کې مداخله ونکړي، خو دوی خپله د افغانستان په داخلي امورو کې ښکاره مداخله کوي.

د مغزونو اغوا: د افغانستان سره د دښمنۍ یوه بله مستنده موضوع له افغانستان څخه د مغزونو او قوي کار ایستل دي. د تیر رژیم له سقوطه وروسته تر دوو اونیو په کمه موده کې امریکا او ملگرو یې له افغانستان څخه تقریباً ۱۲۳۰۰۰ افغانان په دغه تور وایستل او تور روان دي چې دغو کسانو د خارجیانو سره کار کړی و؛ او اوس یې امارت وژني، دا څومره ناروا ادعا وه او ده. امارت د هوایي میدان او د هغو کسانو امنیت نیولی و، کوم چې الوتکو ته تلل. همدا اوس په افغان حکومت کې په زرگونو مامورین دي چې غرب ته یې د مهاجرت فورمې ډکې کړې دي او په درواغو یې پکې لیکلي چې طالبان مو وژني؛ په داسې حال کې چې فعلا له امارته معاش اخلي. امارت هغو کسانو ته لا څه نه وایي چې د هر هغه خارجي پر سینه یې د سرو زرو مدال ټومبلی و، چې ډېر مجاهدین یې شهیدان کړي وه. نو دغه عادي کسانو ته به ولې څه وایي. امارت عفوې ته متعهد دی. خو غرب د امارت دغه ټول د حسن نیت اقدامات بایېزه گڼي.

- اقتصادي بندیزونه: د تیر رژیم د حکومت بودجه ٪۸۶ پر خارجي مرستو ولاړه وه، چې اکثریت یې امریکا او ناټو تمویلول. په ۱۵ اگست ۲۰۲۱م کې د رژیم په سقوط سره امریکا او ملگرو یې یو دم هرڅه پر افغانانو بند کړل او نور بندیزونه یې هم پرې ولگول. دغه حالت پر افغانانو دسته جمعي لوږه تحمیل کړه چې د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف او یو بشري ناورین دی. امریکا په افغانستان کې د خپل ملاتړې فاسد حکومت د ناکامۍ سزا مظلومو افغانانو ته ورکړه. په افغانستان کې هغه شل کاله چې د ډالرو باران و، ٪۴۸ افغانانو دملل متحد د راپور له مخې په فقر کې ژوند کاوه. امریکایانو د خپلو بندیزونو په سبب دغه رقم ٪۹۷ ته لوړ کړ، چې د بشر له حقوقو ښکاره سرغړونه ده. ډېر افغانان سوال کوي چې آیا غرب رښتیا په افغانستان کې سوله غواړي؟ زه تاسو جنابعالي او نړیوالو ته د خطر زنگ وهم چې که پر افغانانو همدا بندیزونه او اقتصادي فشار ادامه پیدا کړي، یقینا داعش او نور افراطي ډلو ته به اسانه وي چې له افغانانو عسکر جذب کړي.

- مالي فشار: د امریکا لخوا د افغانستان بانک د سرمایې ضبطولو د هیواد ټول اقتصاد بد متاثر کړی دی. د امریکا جمهور رئیس جوبایډن په ۱۱ فبروري ۲۰۲۲م فرمان صادر کړ چې د افغانستان ۷ بلیون ډالره دې پر دوو برخو وویشل سي، یوه برخه دې یې د هغو امریکایي عسکرو کورنیو ته ورکول سي چې افغانستان کې په جنگ کې وژل سویدي او هم هغو کورنیو ته ورکول سي چې د سپتمبر ۱۱ په حادثه کې مړه سویدي. یعنې نیمه پیسه باید امریکا کې پاته سي. دا بیا بله خبره ده، چې معلومه نه ده د سپتمبر حادثه چا وکړه او که هرچا وکړه، یو افغان په هغه کې شامل نه و. او بل دا چې متجاوز عسکر ته به د هغه چا پیسه د پاداش په ډول ورکول کېږي چې د خپل وطن دفاع یې کړیده. د فرمان له مخې نوره نیمه پیسه به د غربي تړی د این جي او گانو له لارې په افغانستان کې مصرفیږي. یعنې د افغانانو پیسه به افغانانو ته د افغانانو په لاس نه، بلکې د هغه چا لخوا ورکول کېږي چې تراوسه یې لا جنگ نه دی ختم کړی. دا پیسه به یقینا د خارجیانو په لوړو معاشاتو او په غیر بشري فعالیتونو کې کارول کېږي.

- نړیوال مهاجرت تشویقول: پر افغانستان د اقتصادي بندیزونو د لگولو، پر افغانانو د ژوند د دائرې د تنگولو او زموږ د تعلیمیافته طبقې د ایستلو له لارې، غرب ته غیر حق مهاجرت او د مغزونو او قوه کار فرار تشویق کېږي. دا عمل په نړیواله سطحه د مهاجرت مشکل نور هم قصدا زیات او پیچلی کوي. دا یو بل بشري ناورین دی.

- پانگونې ته یوه لویه ضربه: اقتصادي بندیزونو او د افغانستان بانکي نظام فلجولو، ملي او بین المللي پانگوال سخت ویرولي دي. هغوی په افغانستان کې پانگونې ته زړه نه ښه کوي. سربېره پر دغه، لویې نړیوالې کمپنۍ په افغانستان کې د امریکا د بندیزونو له ویرې پانگونه نه سي کولای.

- د بې اعتمادۍ فضاء: د افغانستان پر فضا د ډرون گرځېدل، د امارت پر ضد غربي میډیا کې ناروا تبلیغات، مختلف نړیوال بندیزونه، تور لیست څخه د امارت د مشرانو د نومونو نه ایسته کېدل، ټولو خلکو ته د غرب لخوا داسې بریښنول دي چې گویا افغانستان کې امن او استقرار نسته. دا د افغانستان په داخلي امورو کې مداخله او د دښمنۍ اعمال دي. دغو کړنو امارت یو ډول مجبور کړیدی، چې د تېرو شلو کالو سیاسي او ټولنیز انکشاف ته په بله سترگه وگوري. د غرب سخت دریځي په امارت کې د سخت دریزو موقف تقویه کړیدی. ددغه کشمکش په نتیجه د عامو افغانانو سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند سخت د گواښ سره مخ

سویدی.

- افغانان پخپل تاریخ او ثقافت یو مغرور قوم دی او غواړي د نړیوالو سره په مساوي توګه د متقابل احترام پر بنیاد ژوند وکړي. خو غرب په افغانستان کې د خپل ناکام حکومت سزا عامو افغانانو ته ورکوي، تحقیروي یې او فشارونه پر واردوي. د ۲۰۲۱م اګست راهیسې امریکا د امارت سره په اخلاص خبرو ته نه ده کښېنستلې. بلکې کوښښ یې کړیدی چې د فشار له لارې هغه څه لاسته راوړي چې په نظامي لار یې ونکړای سو. د غرب او امارت تر منځ دغسې بې اعتمادي او تقابل باید ختم سي. ددغه حالت ادامه د دواړو خواو په ضرر ده.

نړیواله ټولنه باید د افغانستان حکومت په رسمیت وپېژني: په رسمیت پېژندلو سره به نور امارت سخت دریزو ته چې د جنګ لاحقه ده، ضرورت نلري او هغه څوانان به چې اوس د یو مبادا لپاره په سنګر کې ناست دي، د وطن د آبادي لپاره وګومارل سي. دا وخت به افغانان د خپل سیاسي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره فکر او هڅې وکړي.

نړیوالو مرستو ته ضرورت: امارت د افغانستان د سالم پرمختګ لپاره په حکومتولی، تعلیم، معادن، اقتصاد، زراعت، بریښنا او ډېرو نورو برخو کې د نړیوالو مرستو ته ضرورت لري. ددې پرڅای چې افغانستان له نړیوالې ټولنې تجرید سي، یا په امارت کې د تغییراتو لپاره نړیوال زور او فشار استعمال کړي، زما مشوره داده؛ چې له انعطافه کار واخیستل سي او اوسنی تقابل په متقابل احترام او همکارۍ بدل سي.

- په دوحة کې قریب الوقوع کنفرانس چې ستاسې جنابعالی په مشری د افغانستان په باره کې دائرېږي، یو امتحان دی چې آیا نړیواله ټولنه د افغانستان د آرامي او ددغه جنګځپلي هیواد سره د سولې او دوامداره همکارۍ اراده لري؟ آیا دوی غواړي افغانستان کې امن وي؟ دا د نړیوالې ټولنې او امارت دنده ده چې د تفاهم او همکارۍ پر لور مثبت قدم واخلي. د امارت په رسمیت پېژندلو سره د تهمتونو اوسنی کرغیړنه بازي چې یوبل ملامتوي، ختمیږي. که امارت په رسمیت وپېژندل سي، د نړیوال نظم او د ملګروملتو د مؤسسې د چارټر په مراعات به مجبور وي او د امارت له خودسریو هغه ګیلې به ختمې سي چې اوس یې نړیوال اکثره د فشار په منظور راپورته کوي.

- که امارت د اسلامي همکارۍ د سازمان لخوا په رسمیت وپېژندل سي، د افغانستان اړیکې به د اسلامي نړۍ سره وده وکړي، اسلامي معلومات به سره تبادله سي او د اسلامي نړۍ د علماؤ هغو سؤالونو ته به حل پیدا سي چې اوس یې له لیرې مطرح کوي.

- ډیپلوماتیک پرمختګ: افغانستان په نړۍ کې ۶۰ سفارتونه لري. که امارت په رسمیت وپېژندل سي، او هر سفارت ته شل تنه ډیپلوماتان واستول سي، دوه کاله وروسته به هغوی خارجي ژبې زده کړې وي، اولادونو به یې هلته تعلیم کړی وي او د دنیا سره به یې راشه درشه کتلې وي؛ له نورو به یې زده کړي او نورو ته به یې ورزده‌کړې وي له دې لارې به ډېرو مثبتو تغییراتو ته لار هواره سي.

- په رسمیت پېژندل به داخلي او خارجي پانګونه تشویق کړي، د افغانستان بانکي نظام او تجارت به سم او وده وکړي؛ لوږه به ورکه سي، او افغانستان به د غذايي لحاظه خودکفاء سي. دا به د غرب خلاف د افغانانو غصه کمه کړي، او د داعش او نورو افراطي ډلو لپاره به سخته کړي چې له افغانانو څخه د خپلو اهدافو لپاره په اسانه جذب وکړي.

- د افغانستان په مورد کې د نړیوالې ټولنې لخوا یوه د همکارۍ مناسبه پالیسي به په امارت کې د هغو کسانو لاس مضبوط کړي چې غواړي افغانستان پرمختګ وکړي.

- د امارت په رسمیت پېژندلو سره به مثبتو تغیراتو ته نوره هم لار هواره سي. په نړیواله سطحه په رسمیت پېژندل سوی امارت به د ملل متحد هغه تشویشونه رفع کړي چې د اقلیتونو او بشري حقوقو په مورد کې یې لري.

- افغانستان غني هیواد دی: افغانستان د طبیعي زیرمو له پلوه ډېر غني دی. که افغانستان په رسمیت وپېژندل سي، زموږ ګاونډي او نړیوال پانګوال به د افغانستان د معادنو څخه د استفادې غټه موقع پیدا کړي.

- افغانستان د اتصال محور: که امارت په رسمیت وپېژندل سي، افغانستان به خپل جغرافیایي موقعیت پخپلې ګټې، د سیمې او نړۍ په ګټه وکاروي. افغانستان به د وصل د محور په توګه مرکزي ایشیا د جنوبي ایشیا او لیرې شرق به د غربي او جنوبي ایشیا سره ونښلوي. هغه هیواد چې دوه سوه کاله یې سیمه سره جلا کړې وه، اوس به د تجارت او راکړه ورکړې فعاله څلور لارې سي.

- طالبان ملیګرا خلک دي چې غواړي د خپل ثقافت په تحفظ سره د خپل وطن دفاع وکړي او هغه آباد کړي. چا ته یې د ضرر اراده نسته. د خپل مذهبي او ثقافتي شرائطو په نظر کې نیولو سره غواړي د دنیا سره مسالمت آمیزه د همکارۍ تعامل ولري. زما مشوره خارجي دوستانو ته داده چې امارت مه مجبوروئ چې ستاسو مخالفینو ته مخ واړوي.

- امریکا ادعا کوي چې په ۲۰۰۱م کې افغانستان ته ددی لپاره ولاړه چې افراطي ډلې چې د نړۍ امن یې خراباوه وځپي. ددې لپاره چې افغانستان د افراطي ډلو ځاله نه سي او بیا امریکا مداخلې ته اړه نه سي، باید د افغانستان اوسنی تجرید نور ختم سي. تیرې ترخې تجربې تکرارول دواړو خواو ته نه دي په کار. د امارت سره دې چې اوس پر اوضاع مکمل کنټرول لري او غواړي د نړیوالې ټولنې سره همکاري وکړي، د تفاهم لاره غوره او په رسمیت وپېژندل سي. امارت ته باید د حسن تفاهم او متقابل احترام پر بنیاد فرصت ورکول سي چې نړیوالی ذمه وارۍ ترسره او د سیمې او نړۍ په ثبات او ازدهار کې خپل مثبت کردار اداء کړي.

# د همکارۍ کولو وجیبه؛ د منصفانه گټې اخیستنې او گټو شریکولو چوکاټ په توگه

لیکوال: استاد برکت الله اُریوبی

د اوبیزو سرچینو څخه تلپایه گټه اخیستنه، ساتنه او حفاظت یې د هیوادونو له لوري د ښه نیت له مخې په همکارۍ پورې اړه لري.[1] که چیرې د بین المللي عامه حقوقو له نظره وکتل شي لیدل کیږي چې د د دولتونو ترمنځ د همکارۍ وجیبه په نړیوالو حقوقو کې مهم ځایگی لري او د ملگرو ملتونو منشور کې درج شویو اصولو بنسټ او اساس تشکیلوي. د ملگرو ملتونو منشور په ۱۹۴۵ کې په دې ټکو پیلیږي، مونږ د ملگرو ملتونو خلک، وروسته د دې سازمان بنسټیزې موخې په لاندې توگه بیانوي:

۱ .د نړیوالې سولې او امنیت د ټینگښت په موخه د ټولو گډو اغیزناکو اقداماتو په کار اچول، ترڅو له دې لارې د گواښونو، تېریو، یرغلونو او نورو سوله ماتوونکو کړنو مخه ونیول شي او همدا راز د عدالت پر بنسټ له نړیوالو قوانینو سره سم، په سوله ییز ډول د خبرو اترو له لارې د هغو نړیوالو شخړو او پېښو مخه ونیول شي، چې ښایي نړیواله سوله زیانمنه کړي ؛

۲ .د ولسونو خپلواکۍ او مساوي حقونو ته درناوی، د ولسونو ترمنځ د دوستانه اړیکو ټینگول او د نړیوالې سولې او ټیکاو په موخه د مناسبو لارو چارو غوره کول ؛

۳ .د نړیوالو اقتصادي، کلتوري، فرهنگي او بشردوستانه مسایلو د حل په موخه د همکارۍ او مرستو جلبول او له هر ډول توکمیز، جنسیتي، مذهبي او ژبني توپیر پرته د بشري حقونو هڅول او اساسي ازادیو ته درناوی ؛

۴ .دغې گډې موخې ته د رسېدو لپاره د ټولو دولتونو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول او د کار لپاره د یوه گډ مرکز تاکل ؛[2]

د ملگرو ملتونو اساس د هیوادونو په مساوي حاکمیت کېښودل شوی چې له مخې یې ټول هیوادونه ژمن شوي ټولې هغه شخړې او ستونزې چې نړیوالې سولې او امنیت ته گواښ پېښوي، د خبرو اترو او مذاکراتو له لارې حل و فصل کوي په داسې توگه چې عدالت او مساواتو ته پکې خطر پیښ نه شي.[3] له دې څخه جوتیږي چې د ملتونو حقوق د ملگرو ملتونو منشور پر بنسټ مراعاتیږي چې د جمعي سولې او امنیت اصل ته یې تکامل او پراختیا ورکړې ده. په لنډه توگه ویلای شو چې د همکارۍ د وجیبې له مخې دا ماموریت د دولتونو تر غاړې دی.

د بین المللي سیندیزو حوزو په برخه کې د همکارۍ اصل په اړه قانون جوړونه د ملگرو ملتونو کنوانسیون له مخې وشوه چې په دې اړه یې بین المللي حقوقو اصول رامنځته کړل. د دې سره په څنگ کې او د دې لپاره چې معقولانه او منصفانه گټې اخیستنې په تړاو یو پل رامنځته شوی وي، دې کنوانسیون په ۸ ماده لومړي پرگراف کې د هیوادونو ترمنځ د همکارۍ اصل رامنځته کړ :

اړوند سیندیزه حوزه کې پراته هیوادونه باید د حاکمیت برابرۍ او ارضي تمامیت او شریکو گټو ته په پام د اړوند سیندیزې حوزې څخه د منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې او د حوزې ساتنې په برخه کې له یو بل سره همکاري وکړي.

د ملگرو ملتونو بین المللي حقوقو کمیسون له نظره دا ډیره مهمه ده چې د یوې سیندیزې حوزې څخه د منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې او د حوزې ساتنې او په دې برخه کې د شکلي قواعدو (procedural rules)آسانه پلي کیدو په برخه کې د هیوادونو ترمنځ همکاري شتون ولري.

[4] د دې کنوانسیون ۸ ماده لومړی پراگراف په حقیقت کې په سند کې د ذکر شویو شکلي قواعدو لکه مشوره کول او مخکیني خبراوی (prior consultation)د هغو اقداماتو په اړه چې ممکن د سیندیزې حوزې میشت هیواد متضرر کړي، په اړه اساس او بنسټ تشکیلوي. په دې برخه کې د همکارۍ وجیبه یوه شکلي قاعده ده چې د منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې عملي کولو په برخه کې یو چوکاټ رامنځته کوي. سربیره پر دې لکه څنگه چې پورته ذکر شول د کنوانسیون ۵ ماده دویم پراگراف وایې چې غړي هیوادونه باید د سیندیزې حوزې څخه منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې او همداراز د سیندیزې حوزې ساتنې او پاملرنې په برخه کې معناداره ونده ولري، او دا داسې یوه وجیبه ده چې دواړو اړخونو ته شاملیږي، هم؛ د سیندیزې حوزې څخه گټې اخیستنې ته او هم د سیندیزې حوزې ساتنې او پاملرنې په برخه کې د هیوادونو همکارۍ مسؤلیت او وجیبې ته شاملیږي. دا شکلي قاعده د ماهوي اصل(منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې) مهم ملاتړکوونکې حیثیت لري او ډیره اړینه ده چې په همدې شرایطو (context)کې باید ورته پاملرنه وشي او تفسیر شي.

دا چې په کنوانسیون کې پورتنۍ موضوع په دې الفاظو او متن راغلې ده نو ترې دا نتیجه اخیستل کیږي چې د همکارۍ وجیبه(شکلي قاعده) په سیندیزه حوزه کې د اړوند هیواد له لوري د همکارۍ اقدامات او اعمال د هر یو غړي اعظمي گټو خوندیتوب لپاره ډیره مهمه ده او په ورته وخت کې د هیوادونو له لوري د سیندیزې حوزې ساتلو او پاملرنې برخې سره هم مرسته کوي. نو څکه په سیندیزه حوزه کې یو هیواد حق لري چې اړوند شریک هیواد ورسره د حوزې څخه په منصفانه او معقولانه گټه اخیستنه کې مرسته وکړي په ځانگړې توگه په دوه اړخیزه او څواړخیزه موضوعاتو کې لکه: د سیلابونو کنټرول، ککړتیا مخنیوي، وچکالۍ، بې ځایه کیدو، د خاورې خرابوالي مخنیوی، د اوبو څخه رامنځته کیدونکې

---

[1] Mc Caffery (note 12), at 465.
[2] UN charter Article 1
[3] Ibid, Article2(3)

[4] International law commission, Draft articles on the law of non-navigational uses of international watercourses and commentaries thereto and resolution on transboundary confined groundwater' in ILC, Report on the work of its forty-sixth session' (May 2-July 22, 1994).

امراضو مخنیوی، د ژوند چاپیریال ساتنه، د هایدرولیکي ساختمانونو په ساتنه او ... برخو کې د هیوادونو همکاري ډیره اړینه ده. په حقیقت کې د لا ښه والي او مؤثریت رامنځته کولو په موخه د همکارۍ ټول اړخونه او جزیات باید په دوه اړخیزو او څواړخیزو معاهداتو کې واضح شي چې دا ډول چلند د همدې کنوانسیون ۳ مادې پر اساس تشویق او د رامنځته کولو سپارښتنه یې کیږي. خو، د همکارۍ وجیبه چې د کنوانسیون په ۵ ماده دویم پراګراف کې توضیح شوې د هیوادونو له لورې د معاهداتو په رامنځته کولو پورې نه تړلې ده او نه هم پرې منحصره.[5] نو څکه ویلای شو چې د ملګرو ملتونو کنوانسیون کې مهم او د بحث وړ اساسي او بنسټیز اصل د همکارۍ اصل ده هم په ماهوي لحاظ او هم په شکلي لحاظ.

د ګټو شریکولو په برخه کې د هیوادونو رویه:

د پوله تېربدونکو اوبیزو سرچینو څخه د ګټې اخیستنې په تړاو د ګټو شریکولو تړیوالو معاهداتو شمیر مخ پر زیاتیدو دی. په دې بیلګو چې موږ یې دلته وړاندې کوو، د ګټو شریکولو موضوع معمولاً د منصفانه او معقولانه ګټه اخیستنې اصل استنباط او پایلې په توګه په پام کې نیول شوې. په بل عبارت، د ګټو شریکولو چلند ته معمولاً په داسې نظر کتل کیږي چې د منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې اصل څخه سرچینه اخلي او په ورته وخت کې یې ملاتړی رول لري، سره له دې چې په ځینو مواردو کې د دې دوه مفاهیمو ترمنځ ضعیفې اړیکې شتون لري. لیکن په ډیریو مواردو کې د همکارۍ وجیبې اصل په یوه ګډه سیندیزه حوزه کې د اوبیزو سرچینو څخه منصفانه او معقولانه ګټه اخیستنې او ګټو شریکولو لپاره بنسټ او اساس جوړوي. په ځینو وختونو کې کېدای شي اپوټه/برعکس کار وکړي یعني کیدای شي د منصفانه او معقولانه ګټه اخیستنې اصل او د ګټو شریکول په ځینو مواردو کې د همکارۍ رامنځته کولو پرمخ خنډ واقع شي.

په حقیقت کې دا ټول عناصر په پراخه کچه د هیوادونو ترمنځ د پوله تیریدونکو اوبو په اړه د همکارۍ پروسه رانغاړي چې د معقولانه او منصفانه ګټې اخیستنې اصل ربښه او بنسټ تشکیلوي او د ګټو شریکولو اړوند اقداماتو او د مثل شویو پروسیجرونو لکه: د آمارو او ارقامو شریکول، مخکینی خبراوی ورکول، مشوره کول او مذاکراتو په چوکاټ کې پلي کیږي.

د ګټو شریکولو مفهوم په لومړي ځل د کاناډا او امریکا متحده ایالاتونو ترمنځ په ۱۹۶۱ کې د کولمبیا تړون په چوکاټ کې وکارول شو.[6] دا مفهوم وروسته د ملګرو ملتونو له لورې د ګډو سیندیزو حوزو په اړه د کنوانسیون څانګړي راپورټر په لومړي راپور کې د کښتی چلونې مقاصدو پرته د نړیوالو سیندیزو حوزو څخه د ګټې اخیستنې د بین المللي حقوقو کمیسون ۳۰ کلن راپور برخه شوه چې وروسته له خبرو اترو او بحثونو په پای کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې له لورې تصویب شو.

د راپور له مخې: کچیري د دوه هیوادونو ترمنځ مسئله وي او کچیري په سیندیزه حوزه کې د مدرنې ټکنالوژۍ څخه د ګټې اخیستنې موضوع مطرح کیږي لکه د همغږي شویو او مثل شویو قواعدو په رڼا کې د ګټو شریکول او یا د اوبیزې بریښنا تولیدول وي، اړتیا ده چې ټوله سیندیزه حوزه په پام کې ونیول شي. د امریکا او کاناډا ترمنځ د کلمبیا سیند تړون هم ورته ټکي ته اشاره کړې.[7]

د ملګرو ملتونو کنوانسیون نهایي نسخې متن هم ورته موضوع یادوي. د دې سند ۲ مادې له مخې کنوانسیون په ټوله اړوند سیندیزه حوزه(عمومي او اصلي جریان، معاونین یې، جهیلونه او اوبیز څمکلاندې پوړونه) په پام کې نیسي. سره له دې چې کنوانسیون اړوند هیوادونو ته دا امکان هم په لاس ورکړی چې د سیندیزې حوزې یوې برخې په اړه تړون رامنځته کړي لیکن، ۳ ماده یې داسې چوکاټ ترسیموي چې له مخې به یې ضرور په سیندیزه حوزه کې د ټولو شاملو هیوادونو ګټو او حقونو ته پاملرنه کیږي.

د امریکا متحده ایالاتو او کاناډا ترمنځ د کلمبیا سیند په قضیه کې دواړو هیوادونو غوښتل چې هر یو یې خانته اوبیزو سرچینو څخه ګټه اخیستنې ته پراختیا ورکړي لکه د بریښنا تولید لپاره او یا د سیلابونو کنټرول او داسې نورو مواردو په اړه. په پایین کېله متحده ایالاتو کې د بندونو شتون اقتصادي نه وه څکه چې کاناډا یې د انرژۍ تولید بسارو فرصتونو څخه محروموله. همداراز په کاناډا کې د اوبو ذخیره کولو بندونو شتون محلي ټولنې اغیزمنولې. د دې لپاره چې یو ډول توازن رامنځته شي او سره له دې چې دویم انتخاب یو څهٔ ښه غوراوی وو څکه چې د بریښنا تولید پراختیا فرصتونه یې رامنځته کول او همداراز د بالقوه سیلابونو کنټرول په ځانګړې توګه په متحده ایالاتو پایین کېله کې ټولنو لپاره ګټمن وو. د ډیرو خبرو اترو، مذاکراتو او له بیلابیلو ډلو او ټولنو سره تر مشورو او مطالعاتو وروسته کاناډا او متحده ایالات د کلمبیا سیند په هکله سره هوکړې ته ورسیدل. د دې تړون له مخې کاناډا په سیندیزه حوزه کې بریښنا تولیدوې چې اضافي هغه یې په متحده ایالاتو خرڅوي او همداراز په پایین کېله کې د سیلابونو مخنیوي او اغیزمنیدو کمښت په اړه اقدامات لري. په لنډه توګه ویلای شو چې د پایین کېله ګټو تنظیماتو د همکارۍ وجیبې اصل له مخې په مساوي توګه د ګټو شریکول تنظیموي.

له هغه وروسته د ګټو شریکولو مفهوم پراختیا وکړه او په نړیواله کچه بیلابیلو سیندیزو حوزو کې عملي شو. د مثال په توګه وروستی نمونه یې په نیل سیند کې لیدلای شو چې له مخې یې د شریکو اړوند هیوادونو ترمنځ د اقتصادي بهبود په موخه د ګټو شریکول د اشیاوو، خدماتو او تولیداتو په مساویانه توګه ترسره کیږي چې کیدای شي له سیندیزې حوزې څخه په مستقیمه توګه وي او یا هم غیرمستقیمه توګه.[8] البته موږ مخکې هم ذکر کړه چې دلته مراد د اوبیزو سرچینو څخه رامنځته کیدونکې ګټو شریکول دي نه دا چې اوبه په کمي توګه وویشل شي څکه په دې میتود کې هغه

[5] Ibid., at 97.
[6] Treaty between Canada and United states of America Relating to cooperative development of the water resoures of the Columbia river treaty.(Adopted January 17, 1961) 542 UNTS244.
[7] Kearney, R. (Special Rapporeur), '1st report on the Law of the Non-Navigational Uses of international watercourses '(May 7, 1976), (1976).

کېږي چې د اوبو سرچینو څخه د (اقتصادي، اجتماعي، کلتوري، سیاسي او محیط زیستي) ارزښتونو او ګټو ښه والي په موخه د اوبو ګټه اخیستونکو او اوبو عرضه کونکو ترمنځ په مساویانه او منصفانه توګه ګټې شریکې شي. نو ځکه د دي لپاره د یوې ځانګړې سیندیزې حوزې د ګټو شریکولو جامع او واحد میکانیزم پراختیا مومي چې کیدای شي پولي وي او یا غیرپولي او په لاندې برخو وېشل کیدای شي:

الف) د ګټو له لاسه ورکولو او یا د لاسته راوړونکو ګټوله لاسه ورکولو خسارې جبران،

ب) د ژوند وضعیت ښه والی او یا ترلاسه کول

ج)د ټولنو پراختیا د)د سیندیزو حوزو پراختیا او

ذ) د ګټو شریکول.

په جنوبي افریقا کې هم چیرې چې ډیری اوبه پوله تیریدونکې دي د جنوبي افریقا پراختیایي ټولنې (SADC)پروټوکول هم د اړوند شریکو هیوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا او ګټو شریکولو حقوقي چوکاټ ترسیم کړی چې له مخې یې اوبیزې سرچینې باید په داسي توګه مدیریت شي چې منصفانه او معقولانه ګټه اخېستنه په پام کې ونیول شي او د ګټو شریکولو لاربنود هم پکې توضیح شوی. د دې پروتوکول ۳ ماده اووم بند وايي:

»د ګډې سیندیزې حوزې شریک هیواد باید په خپل قلمرو کې له سیندیزې حوزې څخه معقولانه او منصفانه ګټه واخلي. همداراز د هیوادونو له لوري باید حوزه په داسي توګه مدیریت شي چې اعظمي تلپایه ګټه هم اړخونو او هم خپله حوزې ته ورسیږي او باید د ټولو شریکو هیوادونو ګټې په پام کې ونیول شي، په ورته وخت کې د اوسنیو او راتلونکو نسلونو ګټې هم پکې راونغاړل شي«.

همدې ته په پام د پروتوکول ۷ ماده دریم بند او (ب) پراګراف په واضح توګه بیانوي چې منصفانه او معقولانه شراکت دواړه اړخونه په پام کې نیسي هم د سیندیزې حوزې څخه تلپایه ګټه اخیستنې حق او امتیاز او هم دا چې د حوزې ساتنې او پاملرنې لپاره اړخونه سره همکاري ولري. سربېره پر دې د پروتوکول اصلي هدف دادی چې په دې اړه د غړو هیوادونو ترمنځ ټینګه او اړینه همکاري رامنځته کړي. دلته متقابلاً د منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې اصل د همکارۍ اصل له لارې حمایت کیږي.[9]

په دې سیمه کې خینې نوې پراختیاوې هم رامنځته شوې دي: د ګټو شریکولو په اړه د (SADC)لاربنود دمګړی نوره هم پراختیا کړې په ځانګړې توګه د ضایعاتو کمیدو له کبله د عرضې زیاتوالی، د فاضلاب دوباره استفاده، له یوې سیندیزې حوزې څخه و بلې هغې ته د اوبو انتقال، د مجازي اوبو سوداګرۍ او په داسي نورو مواردو کې کافي پرمختګ رامنځته شوی دی.[10]

نوی لاربنود په حقیقت کې د ګټو یو ځنځیر مطرح کوي چې د سرکېله[11] او پایین کیله[12] هیوادونو ګټې پکې نغښتې وي او د ګټو سند ته یې پراختیا مونډلې ده. د دې کار له مخې پایین کیله هیوادونه په سرکېله هیوادونو کې د برېښنا تولید په موخه د بندونو جوړولو ملاتړ کوي او دوی به موسمي جریانونه ترلاسه کوي چې سیندیزه حوزه خوندي کیږي او د توریزم صنعت پیاوړتیا مومي. همداراز پایین کیله هیوادونه به خپل تولیدات او محصولات د انرژۍ په بدل کې سرکېله هیوادونو ته استوي او داسي نور. دا ډول چلند مرسته کړې چې د ګډې سیندیزې حوزې هیوادونه له خپلو اوبیزو سرچینو څخه اقتصادي او معقوله ګټه واخلي او هم یې اړوند ارزښتونه وساتي.

د ګټو شریکولو دا مهم چلند د (SADC) سیمې د هیوادونو پراختیا سره ډیره مرسته کړې او ترې تود هرکلی شوی دی. په ورته وخت کې دې چارې د بین المللي حقوقو متخصصینو لپاره نوې اندېښنې او پوښتنې هم راپورته کړې دي چې ګواکې څنګه کولای شي نړیوال حقوق د داسي مخ پر ودې حال کې پالیسي لاربنود سره وتړي او همداراز د تلپایه پراختیا چاپیریال، شفافیت، مؤثر او قانوني چاپیریال رامنځته کولو په برخه کې د حقوقو نقش تعریف کړي.

د افریقا په یو بل ځای کې په ۲۰۰۳م کال کې د تنګانیکا کنوانسیون[13] په ۴ ماده کې راغلي دي:اړوند سیندیز شریک هیوادونه باید د جهیل او اړوند

سیندیزې حوزې په مدیریت کې له یو بل سره د ښه نیت له مخې همکاري وکړي او د دې سند اساسي اصول په ۵ ماده کې بیان شوي دي چې زیاتوي: د جهیل او سیند اوبیزې سرچېنې باید په داسي معقولانه او منصفانه توګه مدیریت شي چې تلپایه پراختیا رامنځته کولو سربېره د سیند او جهیل د خوندي ساتلو او پاملرنې ډیریدو سبب شي او په ورته وخت کې د اوسني او راتلونکو نسلونو ګټې او غوښتنې په پام کې ونیول شي. په بل عبارت محلي ټولنې حق لري چې د اړوند ټولنو له طبیعي سرچینو څخه په ګټو کې شراکت ولري.[14] سربیره پر دې د دې کنوانسیون ۱۱ ماده او (C) پراګراف زیاتوي:

د (CBD) مطابق غړي هیوادونه بایدد سیندونو او جهیل د جینیتیکي او بیوکیمیاوي سرچینو څخه د ګټې اخیستنې برخه کې هڅه وکړي چې له یو بل سره همکاري وکړي تر څو ګټې او پایلې یې په عادلانه او مساویانه توګه له یو بل سره شریکې شي.

دا ښیلګه نمونوي ده او د همکارۍ وجیبه ترې اخذ کیږي چې د سرچینو څخه د منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې او شراکت باندې بناء ده او په حقیقت کې د ګټو شریکولو تنظیماتو له لوري یې ملاتړ کیږي او په پای کې دا ډول تنظیمات د منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې[15] پراختیا سره مرسته کوي.

د نیل سیند په اړه اقدامات (NBI)هم هڅه کوي د دې سیند څخه ګټې اخیستنې په برخه کې همکاري پراخه کړي چې له مخې یې اقتصادي-اجتماعي ګټې، سیمه ایز ثبات او سوله او د نیل سیند څخه ګټې اخیستنې نهادي میکانیزم رامنځته

[8]Phillips, D. and woodhouse, M. Benefit sharing in the Nile River Basin,(2013, forthcoming).
[9] Ibid., at aritcle2(b)
[10] SADC, Sadc concept paper on benefit sharing and Transboundary water management and development (SADC, 2011).
[11] Upstream
[12] Downstream
[13] Convention on the sustainable management of Lake Tanganyika (adopted June 12, 2003, entered into force September 2005). Available online at www.ltbp.org/FTP/LAKECONV.pdf
[14] Ibid., at article5(f)

کوي البته دا ډول میکانیزم د ټولې سیندیزې حوزې په کچه د پالیسی لاربښودیز چوکاټ برابروي. [16] د نیل سیند اقداماتو په لړ کې دا خل د نیل سیند تلپایه پراختیایي چوکاټ هم رامنځته کړی چې د ټولو سیندیزو حوزو هیوادونو له لوري منل شوی هم دی. [17]

د نیل سیند قضیه ښیي چې څه ډول اوبیز گډ هیوادونه د منصفانه او معقولانه اصل تطبیق او د گټو شریکولو تنظیم په موخه د همکارۍ اصل او وجیبه د خپلو تگلارو سرټکی گرځوي. [18]

په منځنۍ آسیا کې هم د قزاقستان، جمهوري قرغزستان، ازبکستان او تاجکستان ترمنځ د سیر دریا او اورال جهیل پر سر د خینو تنظیماتو لکه د هایدروپاور، گاز، ذغال سنگ او تیلو په اړه موافقتنامه شتون لري. [19]

همداراز په منځني ختیځ کې هم د اسرایلو او اردن ترمنځ د اوبېزو موضوعاتو په هکله دي ته په پام چې د اوبو سرچینو څخه گټه اخیستنه کې همکاري مهمه ده، د دواړو هیوادونو ترمنځ د گټو شریکولو په موخه د سولې تړون رامنځته شوی دی تر څو د اوبو ستونزې په ځانگړې توگه د اوبو کمښت ستونزې ته رسیده گي شوې وي. همداراز د دي تړون له مخې هیوادونو هوکړه کړې چې د اوبیزو موضوعاتو په هکله به داسې په ټول اړخیزه توگه تعامل کوي حتی د پوله تېربدونکو اوبو انتقال هم. سره له دي هم اړتیا ده چې د اوبو اړوند ستونزو ته د رسیدگی په موخه په ځانگړې توگه د اوبو تربوالې ستونزې حل په موخه اړتیا ده چې د اوبیزو هیوادونو له لوري د همکارۍ دا چوکاټ لا پراخ شي. همداراز د فلسطین او اسرایلو ترمنځ د زراعتي محصولاتو سوداگری په اړه مهم پوتنشیل شتون لري چې دا چاره به له فلسطین څخه و اسرایل ته ترسره کیږي. [20]په دي مثال کې د همکارۍ وجیبه د گټو شریکولو تنظیماتو رامنځته کیدو د مقدمې په توگه ښودل شوې ده.

په جنوبي آسیا کې هم په ۱۹۹۵م کال کې د میکانگ تړون رامنځته شو چې له مخې یې اوبه په تلپایه او رغنده همکارۍ سره مدیریت کیږي او سیمه ایزې او متقابلې گټې په پام کې نیول شوې دي په داسې توگه چې د میکانگ سیند اوبیزو سرچینو څخه گټه اخیستنه د سیندیزې حوزې ساتلو، پاملرنې او خوندیتوب سبب شي. د دي سند مقدمه همداراز کاږي:

د میکانگ سیند اړوند سیمه کې د محلي سیمو پراختیا او یو بل تړاو په اړه د همکاریو رامنځته کول په ځانگړې توگه د میکانگ سیند څخه د رامنځته کیدونکو گټو او یا یې د ساتلو او حفاظت په موخه د همکارۍ دا لاربښودیز چوکاټ رامنځته شوی دی. [21]

همداراز بل او په حقوقي لحاظ اجباري اړیکه چې په دي تړون کې د منصفانه او معقولانه، همکارۍ او گټو شریکولو اصولو ترمنځ لیدل کیږي د سند په ۱ او ۵ ماده کې نغښتې ده. دا ډول اقدامات د غړو هېوادونو لپاره د همکارۍ اصل رامنځته کوي چې له مخې یې هیوادونه مکلف کیږي چې د اوبیزو سرچینو او نورو اړوند سرچینو څخه د گټې اخیستنې په موخه همکاري سره وکړي په داسې توگه چې حداعظمي گټې د ټولو غړو هیوادونو پکې خوندي شي او همداراز پکې د میکانگ سیند څخه په منصفانه او معقولانه توگه گټه واخیستل شي.(پنځمه ماده).

د میکانگ سیند کمیسون (MRC)هم د سیند څخه رامنځته کیدونکو گټو شراکت په اړه د پالیسی اسنادو او ستراتیژیک پلان پرمټ مهم موارد لري..

د پورتنیو ذکر شویو حقوقي مواردو او پالیسیو چوکاټ څخه په زغرده معلومیږي چې د گټو شریکولو اصل د منصفانه گټې اخیستنې اصل ملاتړ له ځان سره لري او په متقابله توگه د یو بل لازم او ملزوم دي چې هغه اصل یو ماهوي اصل دی. همداراز د همکارۍ اصل د هیوادونو لپاره یو چوکاټ برابروي چې له مخې یې وکړای شي گټې په منصفانه او معقولانه توگه له یو بل سره شریکې کړي. [22] دا چې گټې په څه ډول او کومه کچه سره شریکې شي جزیات یې هېوادونو پورې اړه لري چې په خپل منځ کې یې واضح کړي چې معمولاً د گډ حکومت کولو میکانیزم له لارې رامنځته کیږي البته دا مورد قضایاوو ته په کتو متفاوت دي.

په مخ پراته خنډونه

نن سبا بشریت له داسې ناورینونو سره مخ او غاړې په غاړه دی چې یې خپله رامنځته کړې دي دا ډول موارد د فکر کولو یو فرصت په لاس راکوي. نن له هر وخته ډیر د هېوادونو ترمنځ همکاري ته اړتیا لیدل کېږي چې په نړیواله کچه دا چاره صورت ونیسي. سره له دې چې مونږ د بیلابیلو ستونزو او فجایعو رامنځته کیدو مسؤل یو مونږ کولای شو په بیلابیله کچه د همکاریو رامنځته کیدو مخکښ هم اووسو. [23]

د گټو شریکولو مفهوم به لا نوره پراختیا مومي او لا ډیر به توضیح کیږي او دا چاره به د اوبو پراخ بنسټه او بیلابیلو سکتورو ته په پام ارزښت لوروي. په ځانگړې توگه له اقتصادي اړخه به ډیر د پام وړ وگرځي او هغه مسائل به د اقتصادي لحاظه لا ډیر په پام کې نیول کېږې چې د اوبو په اړخ کې گټو شریکولو ته زمینه مساعدوي. [24]په دي اړه د نړیوالو حقوقو پوهانو په مخ کې پرته ستونزه داده چې نړیوال حقوقي قواعد او مقررات

[15] Nile basin initiative'. Available online at ww.nilebasin.org/news site/index?

[17] See Kigali Declaration (note 44).

[18] Abseno, M. the concept of equitable utilization, no significant harm, and benefit sharing under the Nile River Basin Cooperative Framework Agreement: Some highlights on theory and practice, Journal of water law, 2009

[19] Agreement on cooperation in the field of Joint management of the Use and conservation of water resources of interstate sources(adopted february 18, 1992).

[20] Phillips et al. (note 3), at xiv

[21] Agreement on the cooperation for sustainable development of the Mekong river basin(Adopted april 5 1995).

[22]Abseno ( Note 46).

څنگه د ستونزې حل برخه کیدای شي او د دي مفهوم په پراخولو او کامیابولو کې څه ډول نقش لوبولی شي. هغه څه چې خوشحالونکي دي دادي چې د هیوادونو په رویه کې د گډو شریکولو او اوبیزو سرچینو څخه تلپایه او منصفانه گټه اخیستنې اصول یو بل سره څنگ په څنگ د تلپایه همکاری وجیبې رامنځته کولو او پراخولو کې مؤثر دي.

سربیره پر دي پوهان په دي باور دي چې د طبیعي سرچینو څخه په یوازېزه توگه گټې اخیستنې چلند څخه د گډ اړخیزه توگه گټې اخیستنې او گډې گټې په پام کې نیولو چلند ډیر غوره دی په ځانگړې توگه هغه وخت کې چې ځینې شرایط ورسره ملگري وي، د هیوادونو ترمنځ همکاري او همغږي په دي اړه شتون ولري، ټول ذیدخل وگړي پکې دخیل وي او په لویه کې ملي حکومتونه په دي اړه ډیر مهم رول لري چې وکړای شي په سیمه ایزه کچه د همکاریو پراختیا ته زمینه مساعده کړي. په دي اړه ایلینور اوسترام (Nobel Lauteate Elinor Ostrom) وایي :

د حل لپاره اساسي ستونزه داده چې داډ ترلاسه کړو څه ډول هغه افراد او وگړي چې له مشترکو سرچینو څخه گټه اخلي، نظر او لیدلوری یې نسبتا سره ورته او دقیق وي، څه ډول قوانین رامنځته کړي چې د ذی دخلو اکثره وگړو مشروط موافقت له ځان سره ولري او همداراز هغوی چې قواعد او اصول نقضوي د هغوی تحریم او عکس العمل په اړه د کړنو نظارت کافي مؤثر میکانیزم رامنځته شي او همداراز په ټوله کې اطمینان ترلاسه شي چې اعتماد او متقابل عمل به د دي په ځای چې ضعیف شي، ملاتړ یې وشي.[25]

د بین المللي حقوقو له اړخه دې ستونزې ته پکار ده چې حکومتولي پراخوالی ومومي په ځانگړې توگه د هیوادونو ترمنځ د همکاری وجیبې اړوند شکلي او ماهوي اصول او قواعد باید تقویه شي همداراز د نظارت او شکایت مؤثر سیستم باید رامنځته شي. که څه هم د طبیعي سرچینو څخه گټه اخیستنې اړوند ستونزو ته د حل په موخه باید لا ډیري مشخصې هڅې وشي. دا خبرې او مسألې باید په نننی نړیوال چاپیریال کې باید مشخص او اساسي حل لارې پیدا کړي په ځانگړې توگه د ملگرو ملتونو له لوري د نړیوالو گډو سیندیزو حوزو په اړه کنوانسیون(۱۹۹۷م) موارد په پام کې ونیول شي چې دا په نړیواله کچه یو حقوقي ابزار دی.

پایله

مونږ په نړۍ کې د پراخو فرصتونو په لړ کې ژوند کوو. لیکن دا نړۍ بیا هم د خطرونو ډکه ده په داسي توگه چې یوه ته خطره ټولو ته خطره ده. د گډو ستونزو ابهام او مغلقتیا ته په پام اړتیا ده چې د حل لپاره یې پراخ بنسټه میکانیزمونه رامنځته شي، د یوې گډې سیندیزې حوزې مدیریت په طبیعي توگه په حوزه کې په هره کچه د خلکو پر اقتصادي، اجتماعي، چاپیریالي رفاه مستقیمه اغیزه لري. نړیوالې ستونزې مخ پر زیاتیدونکې کچه د غذایي امنیت او اوبه او انرژي ـ Food) (Energy -Nexusسره تړاو لري چې دي چارې د نړۍ په گوټ گوټ کې جدي مالي ستونزې رامنځته کړي دي. دي ستونزو ته په کتو مونږ اړتیا لرو چې د گډو اوبیزو سرچینو مؤثر تنظیم او مدیریت په برخه کې د تولگټې (community of (intrestچلند غوره کړو. د دي چلند غوره کولو او نهادینه کولو په موخه ځینو اساساتو ته اړتیا لیدل کیږي: د اوبیزو سرچینو څخه په منصفانه او معقولانه توگه گټه اخیستل چې یو ماهوي او ډینامیک اصل دی همداراز د اوبیزو سرچینو تنظیم او مدیریت کې مشارکت، د اړوند هیوادونو ترمنځ د همکاری وجیبه او گډو شریکول هغه موارد دي چې په یوه سیندیزه حوزه کې د مؤثر مدیریت لپاره خورا اړین دي. لکه څرنگه چې مخکې وویل شول دا اصول او اساسات د ملگرو ملتونو کنوانسیون (UNWC)له لوري بیان شوي او پراختیا یې موندلې ده.

سربیره پر دي بیا هم باید د نړیوالو حقوقو په چوکاټ کې دهمکاری اساسي او بنسټیز (شکلي او ماهوي) قاعدې او اصل ته ډیره پاملرنه وشي. همداراز دا باید له یاده ونه غورځول شي چې د گډو اشتراک مؤثر چلند په هیوادونو پورې اړه لري چې دوی څه ډول د تعهداتو په رامنځته کولو کې دا ډول بنسټ رامنځته کوي. خو بیا هم یوه ستونزه په خپل ځای پاتې کیږي هغه دا چې د هیوادونو ترمنځ د گډو شریکول واقعن څومره منصفانه دي. په ځینو مواردو کې سره له دي چې د همکاری چوکاټ شتون لري لیکن په یوازېزه توگه اقدامات ترسره کیږي. دا چاره د دي مستلزمه ده چې گټې په منصفانه او معقولانه توگه شریکې شي، په سیندیزه حوزه کې د اړوند هیواد معنی داره گډون مثبته پایله لري همداراز اړینه ده چې د بالقوه گډو شریکولو فرصتونه په گوته شي یا لږ تر لږه د هیوادونو ترمنځ باثباته او سوله ایزې اړیکې له دي اړخه لا پراخې شي.

د هیوادونو له رویو څخه دا پایله اخیستل کیږي چې د طبیعي سرچینو مدیریت په ځانگړې توگه گډو سیندیزو حوزو تنظیم او مؤثر مدیریت په برخه کې اړتیا ده چې په ملي او محلي کچه سیاسي اراده شتون ولري، ظرفیت جوړونه وشي د اوبو ښه حکومتولي رامنځته شي او د راتلونکې لپاره د همکاری چوکاټ رامنځته شي، د ملگرو ملتونو له لوري د گډو سیندیزو حوزو په اړه کنوانسیون(UNWC) چې په ۲۰۱۴ کال کې تصویب شوی دی هم، د گډو شریکولو لپاره پراخ بنسټه چوکاټ تعریفوي او له پورتنیو اصولو څخه یې گټه اخیستې ده.

---

[23] Nowak, M. and Highfields, F. super cooperators: evolution, Altruism and human behavior or , why we need each other to succeed(Canongate, 2011), at 276-7.

[24] Dombrowski, I. Revisiting the potential for Benefit sharing in the Management of Transboundary Rivers', water policy, 2009, 11:125.

[25] Ostrom, E. 'coping with tragedies of the commons', annual review of political science, 1992,2:493.

# د انرژي ملي پالیسي

ترتیب کوونکی: داکتر فتح الله خالد

دا چې د قانون د تطبیق او حاکمیت وروسته انرژي ته لاس رسی د هیواد دوهم اساسي لومړیتوب بلل شوی همدارنگـــه د ټـــولنې د ټـــولنیزو او اقتصادي پرمختیـایي فعـالیتونو د پـر مخ بیولو لپاره د برښنا سربیره د انرژي بیلابیلـو ډولونـو تـه اړتیـا لـري لکـه حرارتي او میخانیکي انـرژي چې لـه نیکـه مرغـه افغانسـتان د فوسـیل سرچینو او نوې کیدونکې انرژي څخه بـډای هیـواد دی او پراخـې زیرمـې لـري، د هیـواد د ټولنیز او اقتصـادي پرمختگ او د انرژي د اړتیاوو د پوره کولو لپاره باید دغه زیرمې کشف او اسـتخراج شي چـې ښـایي د کورنیـو سرچینـو پـه کـارولو سره د هیـواد د انرژي صادراتو ته هم زمینه مساعده شي، د انـرژي مـلي پالیسـي_ پـه افغانسـتان کـې د دوامـداره انـرژي د سکتور د رامنځته کولو په لار کې یو پر وخـت نوښـت دی چـې د انـرژي د تـامین لپـاره د ټولـو سرچینـو څخـه د استفادې لپاره هر اړخیز لید وړانـدې کوي او د انـرژي د مصـرف پـه ټولـو سـکتورونو کـې د غـوره او مناسـب مدیریت طرزالعملونه تعریفـوي دغـه پالیسي چې ار موخـه یـې د هیـواد د انرژي سکتور د سراسر قانونمند کولـو لپاره یوه عالي هڅه ده چې له املـه بـه یـې دولـت د انـرژي د مختلفـو ډولونـو څخـه مـوثره اسـتفاده وکـړای شي، د انرژي ملي پالیسي چې د اوبو او انرژي وزارت د انـــرژي معینیـــت د انـــرژي پالیسیو ریاست یې کوربه توب کوي او د ټو گونو سکتوري وزراتونو سره یـې یـوه کمیټـه هـم تشـکیل کـړې، دغـه پالیسي د هیواد پـه اقتصـادي اسـتقرار کې د ملا د تیر حیثیت لري،

د دغې پالیسي موخې:

۱: د دې ډاډ ترلاسه کول چې انرژي ته د هیوادوالـو لاس رسـی لـه اقتصـادي پلوه مناسب او د باور وړ وي، له ټولنیز طرفـه مسـاوي او د چاپیریـال لـه پلـوه دوامدار وي.

۲: د برښنا انـرژي د سـوداگری لپـاره د سالم مارکیټ د ایجادولو لپآره د لازمي دستورونو او مقررو پـه رعایت سره پـه رقابتي ډول د انرژي د پراختیا تقویت.

۳: د نړیوالو معیـارونو سره سم د برښنا انـرژي د تولیـدي سرچینـو د ظرفیـت توسعه او د داخلي اړتیـاوو د پـوره کولـو همدارنگـه پـه سـون توکـو او وارداتي برښـنا بانـدې د تکیـې د کمولـو لپـاره د داخلي سرچینو څخه استفاده.

۴: د انرژي امنیت د ښـه کیـدو او د کاربن د کمولو سره د مطابقت لپاره د نوې کیدونکې انرژي سرچینو کارول.

۵: د هایدرو کاربنونو، د اوبـو سرچینو او د نوي کیدونکې انرژي سرچینو پـه شـمول د مخلوطـو سرچینـو څخـه د انرژي ترلاسه کولو لپاره د اوږد مهاله پلان جوړول.

۶: لیـرې پرتـو سیمو تـه د بریښـنا د لیږد او توزیـع مـلي عصرـي شـبکې رامنځته کول.

همدارنگـه دغـه پالیسيـ ډیـر نـور مسایل په بر کې نیسيـ چې د لوړو مقامـاتو د تائیـدی وروسـته بـه د اسـتفادې وړ وي، د انـرژي مـلي پالیسيـ چـې لـه نـوم څخـه یـې ځرگنـدیږي د ټـول هیـواد د انـرژي سکتور تر پوښښ لاندې نیسيـ چې پـه عمـلي کیـدو سره بـه یـې گـران هیـــواد افغانســـتان د انـــرژي د خودکفـایي تـر څنـگ د انـرژي پـه صادرونکي هیواد هم بدل شي، دغه ارمـان تـه د اوبـو او انـرژي وزارت د انرژي پالیسیو ریاست مسلکي او پـه کار پوه کاري ډله شپه ورځ کار کوي.

# عوامل محرک و مهار سیلاب در افغانستان

انجنیر فایز الرحمن عزیزی



تصویر از جریان سیلاب شهر چاریکار ولایت پروان- حل ۱۴۰۲

اثرات منفی تغییرات اقلیمی که باعث تغیر رژیم بارندگی ؛ هایدرولوژیکی و همچنان تکراریت خشکسالی های متواتر گردیده و از جانب دیگر رشد نفوس، افزایش فعالیت های انسانی در ساحات آبریزه ها از جمله محرک های اساسی هستند که خطر سرازیر شدن سیلاب های مدهش را در افغانستان چندین برابر نموده و اثرات ناگواری بالای مردم، شهر ها، محیط زیست و ایکوسیستم بجا گذاشته است.

عوامل عمده دیگر همانند توسعه مناطق مسکونی بدون در نظرداشت سیستم های کنترولی سیلاب، غصب حریم، اشغال مسیر جریان خصوصا در مناطق شهری، بندش جویبار ها، تصرف مسیر سیلبر ها، مداخله مستقیم در مجرا های آبی و دریا ها، تخریب پوشش گیاهی، قطع اشجار ، از بین بردن بته های کوهی و تبدیل آن به ساحات زیست در شهر ها و دهات که باعث می گردد تا آبریزه یا ساحه آبگیر بگونه غیر طبیعی و نامنظم عمل نموده منجر به طغیان سیلاب و حرکت جریان به مسیر های غلط شهری گردد که این گونه سیلاب ها اکثرا خطرات جانی و مالی را نیز به ساکنین شهر ها به بار آورده است.

سیلاب های ماه میزان سال 1399 در 12 ولایت خصوصا شهرهای چاریکار، محمودراقی، میدان وردک، غزنی وغیره مثال زنده موارد فوق را نشان میدهد و متعاقب آن سیلاب های ویرانگر و مدهش ماه آگست سال 2022 ( اسد 1401) در جریان خشکسالی و فصل تابستان که از اثر بارندگی مونسون/ اوروگرافیک کوهستانی بوقوع پیوست ولایات و ولسوالی های زیادی را خساره مند و باعث تلفات هنگفت اقتصادی، محیطی و اجتماعی نیز گردید طور نمونه دره غوربند در پروان، خوشی در لوگر و پیشغور در پنجشیر یاد همه ما است.

تکرار سیلاب های ماه حمل 1402 در همان موقعیت های قبلی با خسارات و تلفات مشابه بیانگر سناریوی وخامت و افزایش آسیب پذیری سیلاب تحت خطرات سریع اقلیمی برای حال و آینده افغانستان نیز بحساب می آید.

در چند دهه اخیر دانشمندان ارزیابی های متعدد در رابطه با روش های مدیریت و مهار سیلاب انجام داده اند در بیشتر موارد تاکید بر استفاده از ترکیب روش های ساختمانی و غیرساختمانی بوده است. مایز (1996) روش های کاهش خسارت سیلاب شامل ساختمانی و غیر ساختمانی را مورد بررسی قرار داده و بیان دارد که دلیل اساسی تشدید خسارات سیلاب ناشی از گسترش فعالیت های بشری بوده و مهمترین راه جهت کاهش خسارات آن مدیریت سیلاب در دشت ها و آبریزه ها می باشد.سیمنوچ (2002) روش های غیرساختمانی و سیستم هشداردهی قبل از

وقوع سیلاب (EWS ) را مورد مطالعه قرار داده و به این نتیجه رسیده است که روش های غیرساختمانی از نظر اقتصادی مناسب تر از روش های ساختمانی در مدیریت و کاهش خسارات سیلاب بوده - اند. تکچی (2001) که میتودهای مدیریتی سیلاب را در جاپان بررسی نموده به گفته وی سیلاب سال 2000 باعث تغییر در پالیسی، ستراتیژی و سیاست گذاری های مدیریت سیلاب شده و به این نتیجه رسیده اند که روش های غیرساختمانی باید ترویج بیشتری نموده به عنوان بازوی مکمل برای روش های ساختمانی استفاده گردد. در این تحقیق تذکر بعمل آمده "هرچند دیدگاه زندگی با سیلاب به جای مقابله با سیلاب یک موضوع جهانی" تلقی میگردد اما روشهای مدیریت سیلاب یک ساحه با ساحه دیگر بادرنظرداشت موقعیت های اقتصادی، اجتماعی، اروگرافیکی، اقلیمی و زیست محیطی آنها تفاوت دارد.

بررسی روش های مدیریت سیلاب با در نظر گرفتن تحلیل های اقتصادی و بهترین الگوریتم های کاربردی نشان میدهد که روش های مدیریتی مشترک در مهار سیلاب ها باعث کاهش خسارات و تلفات آن می گردد.

یکی از اولین راهکارهای مدیریت سیلاب تشخیص ساحات آسیب پذیر و تحت تهدید سیلاب می باشد که می‌تواند در تطبیق روشهای ساختمانی و غیر ساختمانی برنامه ریزان، مدیران تصمیم گیر و اجرایوی حوادث را کمک نمایند به همین خاطر بعد از واقعه سیلاب های سال 1399در ریاست عمومی منابع آب با استفاده از مودل های هایدرولوژیکی و هیدرولیکی به اساس آمار و ارقام حقیقی استیشن ها مراکز 9 ولایت بزرگ افغانستان که شامل چاریکار، محمود راقی، جلال آباد، کابل، کندهار، هرات، مزار، خوست و بغلان بودند طور همه جانبه مودلسازی و نقشه های تحت خطر (Flood Inundation and Risk Maps) را ترتیب و جهت تطبیق به مراجع ذیربط ارسال گردیده بود تا با این اقدام اولین گام‌های پایدار مدیریت سیلاب در شهرها نهادینه گردد.

هرگاه مداخلات مستقیم و فعل و انفعالات بی مورد انسانها از مسیر سیلاب و آبریزه های طبیعی توقف و یا جلوگیری گردد آن گاه با سیلاب زندگی خواهیم کرد در غیر آن سیلاب زندگی شما را همیشه تهدید خواهد کرد.




شکل ۱: نمای از مودلسازی خطرات سیلاب در شهر چاریکار با استفاده از HEC-RAS و HEC-HMS تحت سناریوی ۳۰ ملی متر بارندگی ساعت وار
( ریاست عمومی منابع آب- اداره ملی تنظیم امور آب؛ قوس ۱۳۹۹)

# سمارټ ګرډ یا هوښیارې شبکې څه شی دی؟

انجنیر مسعود امانزی

سمارټ ګرډ د برېښنا عصري شبکه ده چې پرمختللې ډیجیټل ټیکنالوژي کاروي ترڅو اغېزمنه، باوري او ارزانه برېښنا چمتو کړي. دا د برېښنا تولید، لیږد، توزیع او مصرف یو هوښیار او مدغم سیستم دی چې د اسانتیاوو او مصرف کوونکو ترمنځ دوه اړخیزه اړیکو ته اجازه ورکوي. سمارټ ګرډونه د دودیز برېښنا سیستمونو ننګونو حل کولو لپاره ډیزاین شوي، لکه د برېښنا لپاره د تقاضا زیاتوالی، د نوي کیدونکي انرژۍ سرچینو ادغام، زاړه زیربنا، او د ډېر موثریت او اعتبار اړتیا.

سمارټ ګرډ برېښنایی سیستم دی چې پرمختللی




اتومات ، کنټرول ، معلوماتي ټیکنالوژۍ (IT) او عملیاتي ټیکنالوژۍ (OT) سیستمونه لري چې د تولید سرچینو څخه مصرف سرچینو ته د برېښنا جریان ریښتیني وخت نظارت او کنټرول وروي.

د سټنډردونو او ټیکنالوژۍ ملي انسټیټیوټ (NIST)، سمارټ ګرډ داسې تعریفوي:

یو عصري ګرډ چې د انرژۍ دوه اړخیز جریان فعالوي او د دوه اړخیزو اړیکو او کنټرول وړتیاوې کاروي چې د نوي فعالیت او غوښتنلیکونو لړۍ ته لاره هواروي.

